# د افغانستان عملیاتی سیمي د مدارکو راټولو لاربښود:

# د افغانستان رسمی عدلی سکټور ملاتړ



**میزان 1390**

| مضامین | مخ |
|---|---|
| **I.** د لاربښود د پام وړ کسان او اهدف | 4 |
| **II.** د بېلګو راټولول ولې زيات ارزښت لري | 5 |
| **III.** افغانی محکموکي څارنې لپاره د مدارکو راټولول | 6 |
| 1. پس منظر | 6 |
| 2. د عملیاتو له وړاندې پلان کول | 6 |
| 3. پلان جوړونه او تجهیزات | 6 |
| 4. د سیمې او ساحې دندې | 7 |
| 5. د سیمې امنیت | 7 |
| 6. د سیمې یا ساحې مدارک یا اسناد(انځورونه) | 8 |
| 7. د سیمې یا ساحې مدارک یا اسناد (نخشه) | 10 |
| 8. د شاهد څرګندوني یا بیان | 10 |
| 9. د شکمن سره مرکه | 13 |
| 10. د نیوني فورمه – د مدارکو ځانګه | 14 |
| 11. غیر منقول اجناس | 14 |
| 12. فزیکي شواهد | 15 |
| 13. د بېلګو یا مدراکو ټولونه په پرمختللي توګه | 17 |
| 14. لانده یا خیشته اسناد (په قلم لیکلی اسناد) | 18 |
| 15. د پېژندلو لپاره د شواهدو په نښه کول (لیبل لګول) | 18 |
| 16. د شواهدو لېږدونه ( د زماني ترتیب پر اساس د اسنادو جوړول) | 19 |
| **IV.** د شواهد تصنیف | 21 |
| **V.** موخذ | 21 |
| ضمیمه الف– د ساحوي کاراچوني ټیم د غړو دندې | 22 |
| ضمیمه ب- د ساحوي کاراچوني ټیم د افرادو ګړندی عملیاتی لست | 24 |
| ضمیمه ت- د ساحوي ټیم تجهیزاتو وسایل | 26 |
| ضمیمه ث- انځورونه – بهرني | 28 |
| ضمیمه ج- نخشه یا کروکی | 35 |
| ضمیمه چ- څرګندوني | 36 |
| ضمیمه ح– په استوګن ځیونو کي د وسلو پټن ځای | 37 |
| ضمیمه خ– د استوګن ځیونو څخه دباندې د وسلو پټنځی | 38 |
| ضمیمه د- وسلې د نقلیه وسایطو په منځ کې | 39 |
| ضمیمه ذ– نقلیه وسایطو کي ځای پر ځای شوی چاودېدونکی توکی | 40 |
| ضمیمه ر– نقلیه وسایطو کي ځای پر ځای شوی نا چاودلي چاودېدونکي توکي یا ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي | 41 |
| ضمیمه ز- چاودلي ځای پر ځای شوي چاودېدونکی دستګاه یا مواد | 42 |
| ضمیمه ژ- تبلیغات | 43 |
| ضمیمه س– فورمي او موخذونه | 44 |
| ضمیمه ش– د قانونی تعقیب پاکټ فهرست | 48 |
| ضمیمه ص– عدلي تحلیل او کاراچونه | 49 |
| ضمیمه ض- د افغانستان د جزا قانون احکام | 50 |

موږ د جګړې قانون پر بنسټ ولاړ توقیفي سیسټم څخه د بیلګو او تضمین پر بنسټ ولاړ توقیفي سیستم ته د اوښتو په درشل کې یو. نو له دې کبله د یاغیتوب پرضد دې ماموریت پوره ملاتړ لپاره، ایتلافي ځواکونه د افغان ځواکونو سره یوځای د عملیاتو د سیمې څخه د شواهد او معلوماتو راټولونه په دې ترتیب کوي چې د بیلګو او تضمین پر بنسټ ولاړ توقیفي سیسټم ملاتړ وکړي. دا هڅې به په پوره توګه هغه صورت کې آغیزه ولري کله چې په جنایي جرم تورن کسان د افغانستان جنایي عدلي سیسټم ته د قانوني څرانې او د جرم د مکافاتو لپاره هغه شواهدو سره وسپارل شي چې په افغانستان جنایي سیسټم او محکمه کې اټکل شوي وي.

دا لارښود به ایتلافي او افغان ځواکنو ته یو عملي او په قاعده برابر مرسته وي تر څو شواهد په مناسبه ډول معرفي او تشخیص، را ټولې، خوندي، او چمتو کړي چې د افغانستان جنایي عدلي سیسټم لخوا وپیژندل شي او ومنل شي. د دې لارښود څخه په کار اخیستلو سره، ایتلافي ځواکونه او همکار افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس قطعات کولای شي چې افغاني مقاماتو ته د هرې پېښې لپاره د کار وړ بیلګې او شواهد، څرګندونې، نخشې، انځورونه، او فزیکي مدارک چمتو کړي. سره له دې چې موږ د افغانستان عدلي وړتیاوو لوړولو کې مرسته کوو، موږ استخباراتي کارونې ته دوام ورکوو تر څو خپل د نښې ټاکلو بهیر آسانه کړو . سربېره پردې، موږ باید بشپړ پراخوالي سره د نامحرمو معلوماتو ترلاسه کول او د محرم معلوماتو غیر محرم کول وهڅوو ترڅو افغاني محکمو ته د مدارکو لیږدول په شفافه ډول تامین شي.

د سیمه ییزې قوماندانیو د اصلي کار پر بنسټ، د توقیفیانو د قضیو د جنایي او قانوني څیړنې د روزنې ټیم له خوا اصلاحاتو، د حقوقي چارو ریاست، د ۴۳۵ یوځې ځواکنو مشترکې قطعه، د جګړې د ډګر مسؤلینو د مرستې او ټول افغانستان کې د افغان ملي امنیتي ځواکنو په همکارې، دا لارښود به ایتلافي او افغان ملي امنیتي ځواکنو سره په مناسبه ډول د شواهدو راټولو او مستند کولو کې مرستندویه وي. سربېره پر دې، ایتلافي یوځ کې ګډ هر ملت د توقیف بهیر په بشپړولو کې خپلواک ملي صلاحیتونه لري چې هغه څخه پیروي کوي، خو په دې لارښود کې داسې اصولونو څخه کار اخیستل شوي دي چې ایتلافي ځواکنو لپاره د هر تورن کس سره تړل شوي شواهدو په مناسبه ډول راټولو اهمیت څرګندوي تر څو د بیلګو پر بنسټ ولاړ توقیفي سیستم ته د اوښتو بهیر ته ادامه ورکړې شي.

## I. د لارښود پام وړ کسان او اهدف

1. د دې لارښود د پام وړ افراد يا مخاطبين د افغان ملي امنيتي ځواکونه، افغان ملی پولیس، افغانستان کي ميشته د امريکا متحده اياالاتو ځواکونه او نړيوال سوله ساتی ځواک چی د افغان ملي امنيتي ځواکونو افغان ملی پولیسو په همکاري توقيفی عمليات تر سره کوي، او د هغوی قضائي ملګري دي. همدا رنګه، "ض" ضميمه افغانی محکمو ته د جزايي اجرااتو مؤقت قانون په اساس قانوني صلاحيت، د پولیسو دندي، او د پلټونکي دندي " چمتو کو.

د دې لارښود موخي په لاندې ډول دي:

**الف**- مدارکو د راټولولو معيارونو او شرايطو تقويه او ملاتړ

**ب**- بېلګو د لېږدولو او کارولو هڅونه؛

**ت**- جنايي تحقيقاتو کې د واک اخيستلو لپاره د افغان ملی امنيتي ځواک او د افغان ملي پولیسو هڅول؛ او

**ث**- د افغان عملياتو سيمې د ثبات او امنيتي ګواښونو د لمنځه وړلو لپاره د افغان ملی امنيتي ځواک، افغان ملي پولیسو، افغانستان کې ميشته د امريکا متحده اياالاتو ځواکونه او نړيوال سوله ساتی ځواک تر منځ د استخباراتی اطلاعاتو د شريکولو آسانتيا.

2. افغان ملی امنيتي ځواکونو افغان ملي پولیسو، افغانستان کې ميشته د امريکا متحده اياالاتو ځواکونو او نړيوال سوله ساتی ځواک ته د مدارکو را ټولولو روزنه د دې لارښود د خپرېدو لامل ګرځي. سره ددې چې، د محاربوي ساحي قطعات د يوې محاربوي طرحي په کارولو سره د مدارکو را ټولولو باندې پوهېږي او روزل کېږي، اما قطعات د ځايي څارنوالانو او قاضيانو سره همغږی کوي ترڅو د محلی اړتياوو سره سمون پيدا کړي. د افغان ملی امنيتي ځواکونو افغان ملي پولیسو او افغانستان کې ميشته د امريکا متحده اياالاتو ځواکونو او نړيوال سوله ساتی ځواک ګډه روزنه به د يو بل دې تجربو په شريکولو کې ګټوره وي.

3. په پای کې، څنګه چې محلی څارنوالان او يا قاضيان د مدارکو متفاوته ډول يا نمونو ته ممکن اړتيا ولري، د ټولولو دا لارښود بايد د قطعاتو لخوا تعقيب شي چې د پروان عدلي مرکز کې د څارنی لپاره د پروان بندي خانې ته افراد لېږدوي.

## II. د بېلګو راټولول ولې زيات ارزښت لري

1. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د عدلي جنايي سيستم په لرلو سره يوه مستقله اداره ده .څنګه چې موږ هلي ځلي كوو تر څو افغانستان كې قانون سالاري رامنځه شي ، نو بايد جنايي عدلي سيستم پياوړی کړو او ملاتړ يې وکړو . توقيفي قطعات بايد مدارک او د شاهدانو څرګندونې چمتو کړي چې په افغاني قانوني محکمې کې وکارول شي تر څو د ملي امنيت د څارنوال دفتر يا ولايتي جنايي محکمې وهڅوي چې جنايي تورن کسان تعقيب او مجازات کړي. د مدارکو مناسبه راټولونه د دې لامل ګرځي تر څو د مناسبې قانوني څارنې لپاره د منلو وړ شواهد وکارول شي. په لوړه کچه، د مدارکو راټولول او د قضيې يا دعوې د اقامې چمتو کول به دې افغان ګډ ځواکونو لخوا اجرا کېږي. سره له دې، افغانستان کې ميشته د امريکا متحده ايالاتو ځواکونه او نړېوال سوله ساتی ځواک د استخباراتی موخو لپاره د مدارکو د کارولو اړتيا خوندي ساتي، په پای کې بايد نوموړي قطعات تورن کس پورې تړلي ټول مدارک افغانی مقاماتو ته وسپاري. نو له دې کبله، قطعات بايد د پلان له مخې مناسب محلی، ولايتي، يا عامه دولتي مقاماتو يا عامه امنيتي محکمې ته د جرمي دوسيې نقل نه علاوه ټول مدارک او څرګندوني له تورن سره ولېږدوي.

2. د افغانستان حقوقی سيستم د غربی عرفی حقوقي نظامونو په شان د مدارکو معيار نه څرګندوي. پر ځاي يې، قطعات بايد د اړوند محلي، ولايتي، يا داخلي څارنوالانو او قاضيانو سره مرسته وکړي ترڅو خاص ډول او خاص مقدار باوري مدارک وړاندې کړي. ځينې څارنوالان يا قاضيان، نسبت هغه نمونو ته چې د ډېرو نورو مقاماتو لخوا منل شوي دي، د مدارکو متفاوته ډولونو يا نمونو ته اړتيا لري. د مدارکو عملي راټولول اوهغه مدارک چې بايد راټول شي، د لارښود د توصيې مطابق خورا مناسب وي چې د ضرورت پر مهال د محلی محکمې د شرايطو سره سمون ولري.

## III. افغانی محکموکي څارني لپاره د مدارکو راټولول

### 1. پس منظر

په عمومي توګه، هر توقیفول باید د امکان له مخې د لاندې ډول مدارکو په واسطې تقویه شي: څرګندوني، نقشې، انځورونه، او فزیکي شواهد (د بایومتریک معلوماتو په شمول). که په سمه توګه وڅارل شي، د مدارکو راټولولو اساسي معیارونه چې لاندې تشریح کېږي، افغاني څارنوالانو ته د اړتیا وړ مدارک چمتو کوي چې په بریالیتوب سره یوه قضیه د قانوني څارني لپاره وړاندې کړي. په پای کې، د مناسبو مدارکو راټولول افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړیوال سوله ساتی ځواک دواړو سره مرسته کوي تر څو د عملیاتي سیمې څخه د خطرناکو افرادو د لرې کولو اهداف تقویه او سربېره پردې ځایي وګړو ته اغېزناکه قانون سالاري تشریح کړي .

### 2. د عملیاتو له وړاندې پلان کول

هر محاربوي قطعه چې عملیات تر سره کوي باید د مدارکو راټولو یوه ډله، یا ساحوي کاراچوني ډله وګماري، چې د عملیاتو په ترڅ کې د نیول شویو مدارکو د راټولولو، تر لاسه کولو، او کاروني پلان جوړ کړي. نوموړي ټیم ته به د مدارکو راټولولو او کاروني د طرزالعملونو په اړه په سمه روزنه ورکړل شي چې افغانی همکاران به پکې شامل وي. په الف ضمیمه کې یو لست شته چې د ساحوی کاراچوني ټیم د افرادو دندې(ټیم مشر، مرستیال ټیم مشر، ثبتونکی، پلټونکی، او اداره کونکی) پکې شاملیږي چې د عملیاتو له ماموریت وړاندې، د دندې مهال، او له دندې وروسته پړاونو پر مهال پر مخ یوسي. که چېرې همکار افغان ملی امنیتي ځواکونه افغان ملي پولیس قطعات په ساحوي کاراچوني ټیم کې ناکافي پرسونل یا ناکافي روزنه ولري، پدې صورت کې په ب ضمیمه کې د دندو چټک لست تر لاسه کېږي

### 3. پلان جوړونه او تجهیزات

**الف** - احتمالي مرستندویان. د مدارکو راټولولو بریالیتوب ښایي اضافي مرستندویانو ته اړتیا ولري. ساحوی کاراچوني ټیم باید دا قضاوت وکړي چې نومړي ټیم کې لاندې زیاتوني ګټوري تمامیږي او د ټیم سره مناسبه مرسته منسجمه کړي: څارنوال؛ د قانون جاري کولو کارپوه؛ ژباړونکی؛ د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو تخریبولو اول درجه ټیم؛ د چاودېدونکو توکو د تخریب ټیم؛ محاربوي انجنیران؛ نظامي عملیاتي سپیان؛ محاربوي کمره؛ د اسنادو او رسنیو کاراچوني ټیم؛ او یا د ښځینه ځانګي کارکونکی( که چېرې د هدف سیمه کې ښځې تر سترګو شی نو سمه تلاشی یې وکړي). دا چې د نوموړو مرستندویانو څخه کوم یو کومې دندې ته وګمارل شي د نوموړې دندې حقایقو او مقصد پورې تړاو لري.

**ب** - احتمالي شواهد. د ځانګړو عملیاتو د پلان جوړوني پر مهال، ساحوي کاراچوني ټیم باید لاندې ډول مدارک چې د هدف په سیمه کې تر لاسه کېږي په پام کې ونیسي او په مناسب ډول یې چمتو کړي:

(1) د استفادې وړاحتمالي مدارک: مثالونه یې پدې ډول دي: اسناد یا مدارک، وسلې، انځورونه، د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو برخې، چاودېدونکي توکي، کورني جوړکړل شوي چاودېدونکي برخې، نشه یي او نور قاچاقي(منع شوي مالونه) توکي، د شهودو څرګندونی، پیسې، رسنی او یا د رسنیو ساتني وسیله، د تورن کالي، او تورن کسان چې د محاربوي پوښتنو لپاره ضروري دي.

(2) د مدارکو د کاروني شرایط: د راځ راځ شواهدو د مناسبې کاروني لپاره بېلابېلو توکو ته اړتیا شته. د مدارکو د کاروني لپاره د تیاري نیولو پرمهال باید پاملرنه وشي چې مثالونه یې داسي دي: د مدارکو فزیکي خواص (درنښت، لویوالی، کمیت، او احتمالي خطرناکه مواد)، د اړتیا وړ کڅوړې (پلاستیکي او کاغذي کڅوړې)، او د اړتیا وړ محافظوی تجهیزات (ربړي دسکلي او ماسکونه).

(3) ساحوي کاراچونی د وسایلو بکس. ت ضمیمه کې هغه وسایل شته چې د ساحوي کاراچوني به بکس کې شامل دي. سر بېره پردې، د ساحوي کاراچونی د کڅوړې محتویات باید د جزوتام د ځانګړې دندې او وړتیاوو سره مناسب وي.

(4) د مدارکو ټولول او لېږدول. په عمومي توګه، هدف دا دی چې ځایي، ولایتي، یا د افغانستان عامه محکمو سیستم ته فزیکي شواهد او د معلوماتو ډکه کڅوړه (څرګندونی، انځورونه، او نقشي) چمتو شي. له دې کبله، وروستنی هدف دا دی چې افغان ملی امنیتي ځواکونه او یا افغان ملي پولیس مدارک را ټول ، اداره، استعمال، ساتنه یې وکړي، او محاکمې ته یې وړاندې کړي. سره د دې چې، زموږ افغاني ملګري له سیمي څخه د راټول کړل شویو مدارکو اصلي ساتونکي دي، افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړېوال سوله ساتی ځواک باید د هغو مدارکو په اړه چې استخباراتي ارزښت لري حساس وي او په نښه یې کړي. قطعات باید د تخنیکي اصلی موضوعاتو کارپوهانو سره، لکه پلادین د عملیاتی ځواک سره هم همغږی وکړي. قطعات باید د کشف، د قانون جاري کولو کارپوه، بایومتریک عملیاتي ځواک، د لوا مدافع وکیل، د ګډو اعزامي قواوو عدلي مرکز سره د فزیکی مدارکو د ډولونو په معلومولو کې همغږي وکړي چې په استخباراتي موخو باید استعمال شي. د وظیفوي پلان جوړوني یوه برخه باید په پای کې افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو ته وروسته له دې چې افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړېوال سوله ساتی ځواک استخباراتي کارونه تر سره کړي د شواهدو د لېږدولو څرنګوالی ته ځانګړې شي. هر ځلي چې افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک لخوا افغان ملی امنیتي ځواک افغان/ ملي پولیسو ته لېږدول کېږي، باید ثبت شي.

**4. د سیمې او ساحي دندې**

افغان ملی امنیتي ځواکونه /افغان ملي پولیس باید د سیمې او مدارکو د نقشي او انځور اېستلو ، د فزیکي مدارکو ټولولو، او په سیمه کې له شته شاهد څخه د څرګندونو اخیستلو لـه لیارې، د خپلو همکارانو افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک په ملاتړ د مدارکو راټولو مشری په غاړه واخلي. افغان ملی امنیتي ځواکونه افغان ملي پولیس باید په کافي توګه د مدارکو په اداره او کارولوکې وروزل شي. د افغان ملی امنیتي ځواکونو افغان ملي پولیسو له افرادو څخه چې ډېر سواد لري، باید د ثبتونکو په صفت کار وکړي. که چېرې د افغان ملی امنیتي ځواکونو/ افغان ملي پولیسو قطعات د قسم خوړولو څرګندونو په لیکلوکي ستونځه لري، اړینه ده چې د ثبت دستګاه(تصویري یا سمعي) تیاره شي تر څو افغان ملی امنیتي ځواکونه/ افغان ملي پولیس وکولای شي چې د ځایي خلکو څرګندونې واخلي.

**5. د سیمې امنیت**

**الف:** د ائتلافي ځواکونو خوندیتوب غوره ګڼل کېږي. که چېرې د امنیتي اندیښني له امله، د ځینو اجرائیوي پړاونو څارنه ستونځمنه وي، د امکان تر حده دې موضوعات راټول او د راکرځېدو سره سم باید مدارک مستند شي.

**ب:** کله چې د هدف سیمه ډاډمنه شي، اړوند جزوتام باید نوموړې سیمې یا هدف سره د جنایت سیمې په شان چلند وکړي. اړینه ده چې نوموړي مدارک ونه خوځول شي(کاپي نشي)، ګډوډ، ناولي، یا فاسد نشي. په زیاتره مواردوکې، د افغانستان اسلامي جمهور ي دولت بېلابېلو ادارو استازي سیمې ته رسېږي. که څه د ښه نیت سره هم وي، دغه افراد کېدلای شي چې د سیمې مسئول همکار افغان ملی امنیتي ځواک / افغان ملي پولیسو ځواک سره د همغږي نه پرته مدارک راټول او وخوځوي(کاپي کړي). د احتمالي لانجو د مخنیوي لپاره، جزوتام باید همکار افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو ته ثابتي تازه روزنې ورکړي ترڅو پدې پوه شي چې سیمه څنګه کمربند کړي او ناروزل شوی افراد، د احتمالي شکمنو کسانو په شمول، د مدارکو له ګډوډولو څخه منع کړي. که چېرې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مامورین مهم مدارک خوځوي(کاپي کوي) یا ګډوډوي، د نوموړي کس نوم او د اړیکي معلومات ثبت شي او کوم اجناس چې هغوی د قضیې په دوسیې که د یادوني یا نښه کولو لپاره خوځوي یا ګډوډوي، مدرک یا مستند شي.

**6. د سیمې یا ساحې مدارک یا اسناد (انځورونه/ عکسونه)**

**الف:** عمومیات:

(1) عمومیات: انځورونه د مدارکو خورا مهمه برخه ګڼل کېږي چې افغان ملی امنیتي ځواکونه/ افغان ملي پولیس یې ټولولای شي. د هر هغه څه چې مدرک یا ثبوت ګڼل کېږي انځور یې واخیستل شي. له هر ګوټ او په یو له بل تېر حالت کې انځورونه واخیستل شي.

(2) انځورونه باید د سیمې دواړه دباندې(ظاهري) او دننه خواګانې انځور کړي.

(3) افغان ملی امنیتي ځواکونه/ افغان ملي پولیس باید انځورونه یا تصاویر واخلي او د دیجیټل کمرې کارولو باندې او هغه ډول تصاویر چې سیمه انځوروي باندې پوه شي.

(4) افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړیوال سوله ساتی ځواک پرسونل نباید چې د سیمې په تصویرونوکې شتون ولري.

(5) تصاویر باید روڼ(صاف)، تېز، او پرته له اړونی (انحراف) څخه وي. دا تصاویر باید له یو ثابت موقعیت څخه د سترګو په سطح واخیستل شي (منځې لوړوالی). انځورونو د اخیستلو نېټه، وخت، او ځای ثبت شي.

**ب:** دباندیني انځورونه: د امکان سره سم، د انګړ دباندې، نقلیه واسطې، یا ودانی، انځورونه. تصاویر باید ودانی له بېلابېلو زاویو څخه انځور کړي او لارې پکې شاملې وي. د امکان په صورت کې، لید باید د پېښې سیمې موقعیت د ځمکې د نښو او د راګرځېدو سیمې په شاملولو سره تعین کړو. تصویر د لیدونکو، او شاوخوا چاپېریال په ګوته کوي(ث ضمیمه ولیدل شي).

**ت:** منځنی انځورونه: د انګړ دننه، نقلیه واسطه، یا ودانی انځوروي.(ث ضمیمه ولیدل شي). تصاویر باید د بشپړې سیمې ۳۶۰ درجې څرګندوالی چمتو کړي. تصاویر باید د کوټې له څلورو ګوټونو څخه واخیستل شي چې سیمه داسې انځور کړي چې د ائتلاف ځواکونو لخوا ترلاسه کېږي.

**ث:** مدرک: د مدرک د لری کوولو څخه مخکې، هغه شواهد چې پخوا پیدا شوی وه، ور څخه انځورونه واخلی.

(1) تصاویر باید د یوو جنس دواړه د نږدې لید او د پراخ لید زاویې انځور کړي تر څو د نوموړي جنس موقعیت د منځنی سیمې پاتې برخو سره په ترواوکې وښایي. له نږدې څخه د مدارکو انځور اخیستلو پر مهال، د درجې د ښوولو لپاره له وړې اندازه ګیرې آلې(خط کښ یا 3 x 5 قطعه) څخه کار واخیستل شي. په نږدې انځورونوکې، مدارک ټول چوکاټ نیسي. د پراخې زاویې تصویرونو لپاره، غوره ګڼل کېږي چې لومړي تصویر څخه وروسته د مدرک صفا (روڼ) انځورولو لپاره اړین ده چې نور اجناس لرې شي. د مثال په توګه، که چېرې د وسلې یوه برخه د شړۍ پواسطې پوښل شوې وي، لومړی د وسلې او شړۍ انځور واخیستل شي، وروسته تر هغه شړۍ لرې شي و د وسلې بل انځور واخیستل شي. تصاویر باید د قاچاقي یا منع شوي مالونو د ټېولو هره هڅه انځور کړي(ث ضمیمه ولیدل شي).

(2) د ممکنه ثبوت یا مدرک تر څنګه د تورن یا شکمن کس د تصویرونو اخیستنه وړاندې تر دې چې جنس له خپل لومړي یا اصلي ځای څخه وخوځول شي، لوړوالی لري. د انځور اېستلو پرمهال تل باید د ائتلافي قواوو امنیت او مصئونیت په پام کې ونیول شي. د شکمن یا تورن کس لاسونه باید تړلي وي تر څو وسلې ته لاسرسی پیدا نکړي. لازمه ده چې تورن ته نږدې، ډکې وسلې یا لاس رسېدني وړ مهمات موجود نوي. کله چې افغان ملی امنیتي ځواکونه/ افغان ملي پولیس د تورن یا شکمن کس تصویر له مدارکو یا ثبوتونو سره چې په خپل اصلي ځای کې وي، اخلي، نو لازمه ده چې د بندي عکس د نوموړي ثبوتونو یا مدارکو سره وروسته له بېځایه کولو او د ټولېدو په سیموکې د مدارکو ټولولو ورسته، هم واخلي. چې لاندې توضیح کېږي.

(3) هغه اجناس چې مشهود ارزښت لري او د تورن کس پر ځان وي باید ورڅخه لرې شي او له نورو اجناسو څخه د راخلاسېدو سمدلاسه یې ځانته عکس واخیستل شي.

(4) د ثبوت یا مدرک هرې برخې تصویر واخیستل شي، چې ټول جزئیات(مثلاً، پرله پسې شمېرې، اندازې، نښې) په نښه کړي. کله چې انځورونه واخیستل شول، مدارک یا ثبوت په نښاني شوې کڅوړو کې(پلاستیکي یا کاغذي کڅوړې) ځای پر ځای او د وړلو لپاره چمتو شي. یاددونه: بلاستیکي کڅوړوکي د اجناسو اېښوولو پرمهال، که دباندې ډېر ګرم یا ډېر سوړ وي د ګوتو ناڅرګنده یا پټې نښې غونډېږي او له منځه زي. د هغو اجناسو لپاره چې د ګوتو احتمالي ناڅرګنده نښې لري یوازې کاغذي کڅوړې وکارول شي.

(5) د مدارکو په نښه شوي کڅوړې تصویر واخیستل شي.

(6) په هره کوټه کې چې هر انځور اخیستل شوی تفصیل یې ولیکل شي.

**ج:** تورن یا شکمن کسان: د تورن کس تصویر له هر هغه مدرک یا ثبوت سره چې د نیوني پر مهال ترلاسه کېږي واخیستل شي. دا ځانګړی تصویر د قانون څارني لپاره خورا مهم ګڼل کېږي. د تورن نوم، د نیوني نېټه، ځای، او8 ډیجیټه د نظامی ارجاعی کروکی سیسټم (MGRS) په یو اشتهار پاڼه کې ورسول شي. د امکان په صورت کې، افغان ملی امنیتي ځواکونو افغان ملي پولیسو یو استازی په عکس کې راوستل شي.

(1) وروسته له دې چې د مدارکو عکس په د پېښې په اصلي ځای کې(چې نومړي مدارک تر لاسه کېږي) واخیستل شي، کولای شو چې ټول مدارک به یوو ځای کې راټول کړو. یوځای شویو مدارکو سره د تورن انځور واخیستل شي. د امکان په صورت کې، ځانګړی ثبوتونه یا مدارک له ځانګړو شکمن یا تورن کسانو سره مقایسه شي. مثلاً، که چېرې یو تورن کس له ځانه سره کلاشنیکوف (AK-47) وړي یا لري، یو تصویر واخیستل شي چې معین تورن او وسله دواړه په کې شامل وي. که چېرې داسې نوي، د هر تورن کس انځور په انفرادي توګه له ټولو احتمالي مدارکو سره واخیستل شي.

(2) کوم مدارک چې د تورن یا شکمن کس سره په عکس کې ښوول کېږي باید لاندې موارد پکې شامل وي اما محدود پردوی نوي: بټه بدلول، د هویت اسناد(پاسپورټونه)، ګرځنده تلیفونونه، کتابچې، اسعار(مروجې پیسې)، نخشې، بیجک(د پلورلو پاڼې)، جامې(البسه)، وصله (ټوټه پټی)، مخابرې وسایل، مهمات، د کارتوس پوښونه، د ځای په ځاي شویو چاودېدونکو توکو پرزې یا برخې، وسلې، او کیمیاوی مواد( هغه مواد چې د وسلې، مهماتو، یا چاودېدونکو دستګاه جوړولو لپاره پکارېدلای شي).

**چ:** د تصویرونو فهرست کول: د امکان په صورت کې، د انځورونو لسټ یا جدول نه په استفادې سره د عکسونو ثبت شي چې د کوټې نخشې سره مطابقت وکړي.

(1) ویدیویی مدارک او یا عکسونه سي ډي (CD) ته ولېږدول شي. انځورونه د د راپور تختې په شکل د پاورپاینټ په ارائه (پرزنټېشن) کې ځای په ځای شي. نوموړې د راپور تخته په مناسبه توګه په پښتو یا دري ژبه وژباړل شي تر څو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مقاماتو ته د مدارکو په لېږدولو کې مرسته وکړي. لازمه ده چې په عکسونو کې ټول معلومات غیرمحرم شوي وي او د راپور تختې معلومات هم غیر محرم وي.

(2) افغان ملی امنیتي ځواکونه/ افغان ملي پولیس باید په لاس لیکلی بیان چي لاس لیک، نېټه په لاس لیکلي وي، او د غټي ګوتي نښه چي تصویر تاییدوي تیاره کړي. مثلاً:

"ما (نوم او رتبه) دغه نښلېدلي عکس (عکسونه) په (وخت او افغانی نېټه) واخیست. عکس ښایی (د سېمي توضېح – څوک او څه پکي دي). دا عکس په دقیقه توګه دا انځوروي چي تورن یا شکمن کس د نیوني پر مهال په کوم وضعیت کي وه او هغه مدارک چي د افغانانو تر مشري لاندې عملیاتو کي چي د تورن د نیوني په موخه تر سره شوو، د تورن سره ونیول شول، انځوروي. دې عکس ته هېڅ بدلون ندې راوړل شوي."

**7. نخشه یا نقشه** ( ج ضمیمه د نخشي د مثال لپاره وکتل شي.)

**الف:** عمومیات: نقشي د سیمي رسم، د ودانیو او کوټو موقعیت انځوروي، او شاهدانو سره د تفصیلاتو په بیا یاد راوړلو کي مرسته کوي. نقشه یا سکېچ باید هغه تصاویر چي دباندې، دننه، مدارکو، او شکمنو یا تورنو کسانو څخه اخیستل شوي، تقویه کړي.

(1) نقشه یا سکېچ باید چي په لاس باندې رسم شوی وي او لازمه نه ده چي درجه بندي شوی وي.

(2) افغان ملی امنیتي ځواک(ANSF)/افغان ملي پولیس(ANP) باید نخشه یا سکېچ وکښي.

(3) لږ تر لږه، په یوه نخشه کي باید د تورن/تورني نوم، د هغه/هغي د پلارنوم، او د تورن یا شکمن کس د پیدا کېدو لومړی موقعیت؛ د هدف سیمه کي د ښځو او ماشومانو تر سترګو کېدو موقعیت؛ او د ټولو مدارکو ترلاسه کولو ځاي شامل وي. په نخشه یا سکېچ باندې د اجناسو موقعیت ښوولو لپاره د نخشو د علامو او اثارو له فهرست څخه کار اخیستل کېدلای شي. مثلاً، په هغه ځای کي چي شکمن یا تورن کس ترلاسه شو د "**الف**" توری کېښول شي. په کونج کي، د نخشي د علامو او اختصاراتو فهرست باید ووایي"الف: "د تورن کس نوم" افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس د امکان په صورت کي نخشه یا سکېچ وکښي.

(4) لازمه ده چي نخشه یا سکېچ د هغي قطعي د اړېکي معلومات ولري چي عملیات یي تر سره کړي او نخشه یا سکېچ یي کښلي. د عملیاتو نېټه، او د امکان په صورت کي، د هغه کس نوم چي نوموړی نخشه اې کښلي، پکي شامل شي.

(5) لازمه ده چي نخشه د پیښي موقعیت- د کلي نوم د محکمي لپاره او 8 شمیرې (دیجیټه) د نظامی ارجاعی کروکی سیستم (MGRS) د ائتلافي ځواکونو لپاره، ولري.

**ب:** خلک: افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس باید تفسیر کړي چي: (1) کوم افراد بندي ول او خوشي شول؛ (2) د هغو نارینه کسانو نوم چي د عسکري سن کي دي او په سیمه کي ترلاسه شوي؛ او یا (3) د ښځو یا ماشومانو موقعیت چي په سیمه کي تر لاسه شوي. پر نخشه باندې د ټولو افرادو موقعیت ولیکل شي.

**ت:** مدارک: د ټولو مدارکو موقعیت په نخشه باندې د ممکنه تفصیل سره ولیکل شي. د مدارکو او خلکو موقعیت د پلټونکو یا مستنطقینو سره مرسته کوي.

**ث:** راتلونکی کاراخیستنه: نوموړي کروکی افغانی قاضیان کاروي تر څو په ځانګړي جرم کې د کوم کس شتوالی څرګنده کړي. نو له دې کبله، د ثبوتونو او خلکو(تورن کسانو) دقیق موقعیت لوړوالی لري. هدف دا ده چې صفا او دقیق لیدلی سپړنه چمتو شي چې په کارونی سره یې قاضیان څرګنده کړي چې ګواکې کومه جنایي فعالیت تر سره شوی که نه. نوموړي کروکي د دغو پوښتنو" څوک، څه، کله، چیرې، ولی، او څنګه" په ځواب کې مرسته کوي.

**8. د شاهد څرګندوني پابیان** (د شاهد څرګندوني لپاره د چ ضمیمه ولیدل شي.)

**الف:** د شاهد څرګندوني د افغانستان جنایي محکمې په پیښو کې د جوړښت اساس تشکیلوي او د پېښې په سپیناوي کې خورا مهم رول لوبوي. څرګندوني باید د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو لخوا او (افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتې ځواک په مرسته) واخیستل شي. د شاهد څرګندوني، د عمومیاتو پر ځای له افغاني قانون څخه د تورن اصلي سرغړوني ثبتولو لپاره اړینې دي. مثلاً، " X یو بد کس ده" شخصي او ناوړه بلل کیږي. هغه څرګندوني چې ښکاره دي لکه " ما X ولید چې چاودېدونکي توکي وړي او ځای پر ځای کوي،" یا " ما X ولید چې له Y (مشهور یاغي) سره لیده کاته کوي او هغوی سره وسلې وي" زیات ګټور ګڼل کیږي. دا ډول څرګندوني له مدارکو سره په تړاو کې په قوي احتمال سره د محکومیت تضمین کوي.

**ب:** له امکان سره سم، څرګندونه(بیان)باید د ورقې پر مخ ولیکل شي. که چیرې دا پروسه عملي نوي، له غږ ثبتونکی آلاتو یا ویډیویي کمرو څه د څرګندوني په ثبتولوکې کار واخیستل شي. په یاد ولرئ، زیاتره ولایتي محکمې ممکن د برښنا نشتوالی یا ویډیویي بیا ننداره (playback) وسایلو نشتوالي له امله د ثبت شوې څرګندوني د لیدلو یا اورېدلو مجال ونلري. په وار سره، د شاهد لیکلي یا ثبت شوې څرګندوني پر ځای، هغه قسم پاڼې(قسم نامه) چې د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو یا ژباړن لخوا نیول شوي دي ونجېدلای (بدلیدلای) شي. څرګندونه یا نقل یې، باید سم دلاسه څارنوال ته وسپارل شي. قاضیان د شخص یا ویډیویي څرګندونه غوره ګڼي، نو د امکان په صورت کې، دا ډول څرګندوني باید د لیکنده څرګندونو په زیاتولو سره وکارول شي. هیڅکله هم شاهد مجبور نکړی چې تحمیلي څرګندونه یا بیان ورکړي. شکمنو سره تل انساني چلند وکړی.

**ت:** په سیمه کې شاهد سره د مرکې څرنګوالی

(1) افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس باید له شاهدانو سره د مرکې مشري په غاړه واخلي.

(2) له هر شاهد سره له بل نه جلا او له شکمن څخه جلا مرکه وکړی، تر څو له همکاری یا تهدید څخه مخنیوی وشي. مرکه باید تکتیکي پوښتنو ته ځانګړې شي. پوازې د سیمې مجاز مستنطقین کولای شي چې پلټنه وکړي.

**ث:** لازمه ده چې ژباړن په مناسبه ژبه (دري، پښتو، یا بله) خبرې وکړي.

**ج:** مرکه د غږ ثبتونکي یا ویډیو ریکارډر پواسطې سره ثبت شي، د لرولو په صورت کې.

**چ:** له شاهد څخه د " څوک یا چا، څه، کله، چیرې، ولې، او څنګه ؟" پوښتنې وشي.

(1) څوک یا چا؟ په سیمه کې د شکمنو سربیره د شته ټولو افرادو نومونه په پام کې ونیول شي. د امکان سره سم، د بېلابېلو افرادو تر منځ اړیکې یا خپلوي توضیح شي.

(2) څه یا څه شی؟ د هغه څه په اړه چې پېښ شوې همدارنګه د هغو پېښو بیانول چې اوسني پېښې لامل ګرځېدلې دي. هغه معلومات توضېح شي چې له سیمې تر لاسه شوي. روښانه شي چې کوم مدارک په کومه کچه تر لاسه شوي. د وسلې موندلو په صورت کې، د وسلو فعالیت، د موندلو حالت ، او نورې مشخصه نښې چې په وسلې موجودې دي، روښانه شي. که د قطعي موجوده حالت(ثابت عملیاتی پروسیجر) قطعه مجبوره کړې چې ځانګړې ډول وسله یا یوه اندازه غیرقانوني درمل له منځه یوسي، اړوند څرګندونه(بیان) باید تفسیر کړي چې مدارک چا له منځه یوړل، ولې له منځه یوړل شول، څومره مدارک له منځه یوړل شول، او تر ویجاړولو وړاندې مدارک په کوم حالت کې ول، همدارنګه د قطعي موجوده حالت سره سم تعقیب شي( لاندینی "ذ" برخه هم ولیدله شي).

(3) کله یا څه وخت؟ د پېښې نېټه او وخت بیانوي.

(4) چېرې؟ تر ټولو نږدې ښارګوټی، اولسوالی، ولایت، او کوڅې نوم په ډاګه کوي. ډېر ځانګړی باید وي. افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړېوال سوله ساتی ځواک د سیمې په مشخصولوکي ارجاعي کروکي کاروي، حال دا چې قاضیان په شبکوي کوردینات باندې نه پوهېږي. قاضیان باید ځایي پېژندونکی نښو سره آشنا وي، نو باید په پام کې ونیول شي.

(5) ولې یا د څه دپاره؟ که څرګنده وي، د پېښو علت باید بیان شي. آیا شکمن خپل محرکات مني؟

(6) څنګه؟ هغه پېښې په ډاګه شي چې د شکمن د نیونې لامل ګرځي.

(7) له امکان سره سم، بشپړ، تشرېحي، او روښانه وي.

(8) ټول هغه مدارک چې په سیمه کې له منځه تللي ثبت شي.

(9) په بند کې د شکمنو کسانو ټول ټپونه ثبت شي. له امکان سره سم، د ټپونو لاملونه ولیکل شي.

**ح:** بې پایه پوښتني و پوښتل شي. مثلاً، د " آیا زېړ موټر د ولید" پر ځای دې " څه دې ولیدل؟" ، وپوښتل شي.

**خ:** د لا ډېرو معلوماتو تر لاسه کولو دپاره پرله پسې پوښتني وپوښتل شي. مثلاً، که تورن ووایي چې، " ما یو کس ولید چې په یوو موټر کې وتښتېد،" پرله پسې پوښتني داسې مطرح شي " موټر په کوم رنګ وو؟ موټر په کوم لوري ولاړی؟"

**ذ:** که مناسبه وي، له شاهد څخه وغوښتل شي چې یو انځور یا ډیاګرام (هندسي شکل) وکښي. که شاهد یو انځور یا ډیاګرام وکښي، د شاهد د څرګندونو د یوې برخې په صفت شامل او تشرېح شي چې د هغه/هغې بیان ده.

**ذ:** په پای کې، تل وپوښتل شي چې، " آیا  داسي نور څه شته چې راته بیان یې کړي؟" یا " آیا داسي نور څه هم شته چې ستاسو په فکر زه باید پرې پوه شم؟"

**ر:** د تورن بیان ټکي په ټکي و نه لیکل شي. د څرګندوني موضوع په سوچه، جامع بیان سره ولیکل شي. له عسکري اصطلاحاتو څخه ډډه وشي مګر دا چې شاهد یې وکاروي.

**ز:** د شاهد هغه بیان چې وایي د څرګندوني په ورکولو کې چا اړ ایستلای نه دی، او معلوموي چې ګواکي په شاهدی کې یې وړاندې کوي، هم ذکر شي. که شاهد د شهادت لپاره حاضر نوي، لامل یې باید په بیان یا څرګندوني کې روښانه شي.

**ژ:** له شاهد سره بیان دسره وکتل شي او هغه ته د اصلاحاتو په رواستلوکي اجازه ورکړل شي.

**س:** له شاهد څخه وغوښتل شي چې بیان یا څرګندونه لاسلیک او خپله ګوته پرې ولګوي. که شاهد ته خپل د تذکرې نمره په یاد وي، هغه دې هم په خپل بیان کې ذکر کړي.

**ش:** په یاد مو وي چې د شاهد امنیت خورا ضروري ده.

**ص:** که امنیتي اندېښنې په سیمه کې بیان اخیستلو ته اجازه نه ورکوي، لږ تر لږه، د شاهد د اړیکي معلومات (پته) یادداشت کړی. له شاهد څخه د هغه/هغې نوم، د پلار نوم، د کلي نوم، د ګرځنده ټلیفون شمېره، او د هغه/هغې ( یا د هغه/هغې د کورنی) کور لارښونه (پته) وغوښتل شي. دا معلومات افغاني مستنطقینو سره مرسته کوي چې نوموړي کس کوم بل وخت وپوښتي.

**ض:** په کومه پېښه کې چې هېڅ افغاني تبعه موجود نوي یا و نه غواړي چې مرسته وکړي، د افغان ملی امنیتي ځواک افغان ملي پولیسو له ارګانونو څخه چې د شکمن د توقیفولو ورځې د فعالیت لومړی لاس اطلاعات لري، څرګندوني یا بیان واخیستل شي.

**ط:** که افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړېوال سوله ساتی ځواک قطعه سره مل نوي، افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک له پرسونل څخه څرګندوني واخیستل شي او مرکز ته د راګرځېدو سره سم وژباړل شي.

**ظ:** د عیني شاهد څرګندونی یا بیانات. افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس باید له عیني شاهدانو، هغه شاهدانو څخه چې شکمن پېژنـي، یا په سیمه کې له افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو  څخه چې د توقیفولو د دلایلو باندې پوهېږي ، څرګندونی واخلي. که چېرې افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس  نشي کولای چې لیکنده څرګندونی واخلي، باید د غږ ثبتونکي آلاتو یا ویډیویي کمرو په کارولو سره څرګندوني ثبتې کړي.

**ع:** افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک څرګندونی. افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک پرسونل باید احتمالي توقیف د اثبات لپاره څرګندونی ولیکي. داسې څرګندوني باید د " څوک، څه، کله، چېرې، ولې، او څنګه"  پوښتنو څخه تشکیل شي څنګه چې پورته تشریح شوې.

(1) شمېر: څومره چې د ډېرو شاهدانو څرګندوني راټولي شي، هومره ښه وي.

(2) موضوع: که ځایي اوسېدونکی د پېښې یا شکمن لومړی شاهد وي او په خپله خوښه حاضر شي، د هغه څرګندونه واخیستل شي. د هغو کسانو څخه چې د شکمن د نیوني ورځې د فعالیت یا د هغه ړومبني جنایي فعالیت لومړی لاس اطلاعات لري، څرګندوني هم واخیستل شي. په غوره توګه، د هغو خلکو څرګندونی باید واخیستل شي چې د شکمن د نیوني نږدې څېرمه سیمې کې ژوند کوي. د شاهد بیان نه ښایي چې د شکمن د اوربدني په محدوده کې واخیستل شي. حتی که شاهدان د درواغو بیان ورکړي، ممکن نسبت شکمن ته متفاوته درواغ بیان کړي، چې په بې ارادي توګه د شکمن اعتبار ته ګوته نیسي.

(3) سواد/دقت: که شاهد با سواده وي، په څرګندونه کې یادداشت شي چې د شاهد د لیک او لوست وړتیا په ډاګه کړي. که شاهد بې سواده وي، په څرګندونه کې ولیکل شي چې وښایي نوموړې څرګندونه د شاهد لخوا رامنځ ته شوې ده، هغه/هغې ته د ژباړن لخوا لوستل شوې، هغه په څرګندونه پوه شوو، او  هغه د څرګندوني له موضوعاتو سره موافق ده.

(4) د شاهد هویت. په یوه احتمالي پېښه کې چې شاهد خپل نوم ذکر نکړي، د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو یو کس کولای شي چې بیان واخلي او افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو مسئول یې لاسلیک کولای شي، خپل نوم او د قطعې نوم دې پرې ولیکي، او څارنوال ته له سپارلو څخه وړاندې د خپله ګوته برې کېږدي. که افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس موجود نوي، ارجاعي کروکي، افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک قطعه، او د کلي نوم په څرګندونه یا بیان کې ولیکل شي.

**غ:** د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو څرګندوني یا بیانات

(1) د عیني شاهدانو او اوسېدونکو له بیاناتو سربېره، له افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو څخه چې د موضوع په اړه لومړنۍ معلومات لري غیرسري بیانات واخیستل شي. له افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو څخه د بیان اخیستلو په اړه باید ټینګار وشي څکه دا په جنایي پروسه کې د هغوی ګډون تشویقوي.

(2) د همکار افغاني ځواک لوړرتبه کس باید د پېښو مختصر بیان چمتو کړي. پدې بیان کې، نوموړی افغاني لوړپوړی چاروکی باید دغه تفصیل ورکړي (1) څه پېښ شوي چې د مدارکو راټولولو لامل ګرځي، او (2) اصلی توقیف او هغه پېښې چې له توقیف څخه وروسته سپړېدلي دي. دا څرګندونه باید بیان کړي چې جزوتامونه ولې په ځانګړي موقعیت ول، څه شي هغوې دې ځای ته اړ ایستلي دي، او دقیقاً څه یې ترلاسه کړي.

(3) بي سواده شاهدان. کله چې شاهد بي سواده وي، د هغه بیان د ژباړن پواسطه واخیستل شي، او د سیمي افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو مسئول باید نوموړي بیان څارنوال ته له سپارلو وړاندې لاسلیک کړي. که د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو مسئول د بیان له لاسلیک کولو څخه ډډه کوي یا نه مېلاوېدونکی وي، د قطعې نوم، د پېښې ځای، نېټه، وخت، او د پېښې ډول باید تامین شي.

(4) د مدعي څرګندونی. مدعي سره ځنګه چې پورته تشرېح شوه مرکه وشي.

**9. د شکمن سره مرکه/ مصاحبه**

**الف:** له افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو سره د ګډې مرکې تنظیمولو څخه وړاندې، هڅه باید وشي چې شکمن د ناوړه مدعی علیه په صفت ونه ګڼل شي. که شخص ناوړه اظهار وکړي، مرکه ودرول شي او راپور یې ورکړل شي، او د محبوسینو اخلاقي فساد ثابت راپور ورکولو شرایطو څخه کار واخیستل شي.

**ب:** د شکمن سره مرکه، له امکان سره سم، باید د افغاني څارنوال، مستنطق، یا همکار ځواک لخوا، د افغاني قانون سره په تړاو کې تر سره شي. د جزوتام د قانون نافذونکی کارپوه کولای شي چې همکار ځواک له افغاني څارنوالانو یا مستنطقینو سره همغږي کړي. افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک مستنطق هم باید په مرکه کې شتون ولري.

**ت:** مرکه کونکی باید له شکمن سره د مرکې څخه وړاندې، که وخت مجال ورکړي ټول فزیکي مدارک او د شاهد بیانات بیا وګوري.

**ث:** د شکمن د پوښتلو پر مهال، پورتنی ورته لاربنوني وکارول شي. د " څوک یا چا، کله، چېرې، ولې، او ځنګه" پوښتني موهېڅ کله هېرې نشي. که شکمن بیان ورکوي، له هغه څخه وغوښتل شي چې بیان لاسلیک او خپله ګوته پرې کېږدي. که شکمن د لګول شوی اتهام په اړه له تفصیل ورکولو څخه ډډه کوي، د هغه نوم، د پلارنوم یې/د نیکه نوم یې، او ټبر یا توکم یې ولیکل شي.

**ج:** هېڅکله یو شکمن اړ نشي چې بیان لاسلیک کړي که هغه ونه غواړي چې لاسلیک یې کړي. که شکمن د څرګندونی له لاسلیک کولو څخه ډډه کوي، دوه شاهدان باید د شکمن لفظی بیان یا اعترافاتو تفصیل(په لیکلي، یا ویډیویي یا غږ ثبتولو) سره یادداښت کړي.

**چ:** د اتهامی بیان احتمال تل په پام کې ونیول شي. په افغانی محکمو کې، یا د افغاني مرکې پر مهال، دا د بشپړ اقرار پیل ګڼل کېږي او د پوره پېښې په اړه معلومات ترلاسه کولای شي. د ځیني قاضیانو په عقیده اتهامي غبرګون، چې د یوې پېښې په پارونه کې رامنځ ته کېږي، اعتراف ګڼل کېږي. دا بیان، که د همکار افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو لخوا مستند شوی وي، د قانوني تعقیب د بنسټ په صفت کارېدلای شي. همکار افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس د دغه شان پارېدلی وینااوو د استنطاق دپاره، له امکان سره سم، باید ځانګړی تکتیکي پوښتنې وکړي.

### 10. د نیوني فورمه – د مدارکو ځانګه (د س ضمیمه ولیدل شي- فورمي او موخذونه)

**الف:** که نیونه تر سره شي، د نیوني افغاني فورمه ډکه شي( د س ضمیمه ولیدل شي).

**ب:** په سیمه کې هم، د شکمن د پېژندلو لپاره لږ تر لږه معلومات ډک شي. پاتې فورمه مرکز ته د راګرځېدو سره سم بشپړه شي.

### 11. غیر منقول اجناس

**الف:** په کومه پېښه کې چې د قطعي موجوده حالت یا ثابت عملیاتي پروسیجر سره سم مدارک له منځه وړل کېږي باید:

(1) د ټولو مدارکو چې له منځه وړل کېږي انځورونه واخیستل شي.

(2) افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس باید له امکان سره سم بشپړ بیان ولیکي چې ویجاړ شوي اجناس(د وسلو شمېر، ډول، او مسلسلي شمېرې) تشریح کړي. سربېره پدې، د افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو بیان باید د اجناسو د لمنځه وړلو لامل تشریح کړي.

**ب:** درمل: ائتلافي ځواکونه د عادي عملیاتو په لړ کې په ثابته توګه د غیرقانوني درملو او مخدره توکو سره مقابله کوي.

**ت:** اسناد: قطعات باید هڅه وکړي چې افغانی همکاران سیمه په مناسب ډول مستنده کړي، لکه د ځانګړي درمل یا مخدره توکي د اصغری وزن معیار(اساسی اصغری مقدار یا اندازه لاندې ولیدل شي) ساتل په پام کې ولري. د اصغری وزن له ساتلو، لېبل لګولو، او وړنې راوړني پرته، تورن د مخدره توکو ضد محکمې ته دې سپارلو وړ نشي کېدلای. سربېره پدې، په سیمه کې لیکل او ثبتول خورا ضروري دي. ټاکل شوی افغاني همکار باید د ټولو تجهیزاتو، وسایلو، اسنادو، اسعارو، او درملو عکس واخلی او هم یې په خپل بیان کې شامل کړي. تر ټولو مهمه دا ده چې، د افغاني همکار څرګندوني باید تشریح کړي چې اجناس، ولې، څنګه، او چا له منځه وړي دي.

**ث:** د مدارکو د ټولولو او ساتلو لپاره اصغري مقدار یا اندازه: د مناسب قانوني تعقیب لپاره باید افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس لاندې مقدار ځانګړي درمل ترلاسه او وساتي. که شرایط د مخدره توکو ضد محکمې ته د منلو وړ نوي، سره له دې محلي محکمې قضاوت کولای شي. ځایي محکمې کولای شي هغه افراد تعقیب کړي چې له لاندې اندازی څخه لږ درمل یا مخدره توکي ولري، او په منظم ډول یې تر سره کوي.

(1) هیرویین – 2کیلوګرامه (4.4 پونډه)
(2) تریاک – 10 کیلګرامه (22.0 پونډه)

(3) چرس (يا خام کيميايي توکي لکه بنګ) – 50 کيلوګرامه (110 پونډه)

## 12. فزيکي شواهد

**الف**: جېبي ملحقات. منقول اجسام، لکه پيسې، کونجي (کلی)، او د کاغذ ټوټې، عموماً د شکمن په جېب يا جامو کې موجودې وي، بايد ټول راټول شي. هغه ټيم چې جېبی ملحقات ټولوي وخت نلري چې د نوموړو ملحقاتو تړاو په ځانګړې شکمن پسې څرګند کړي؛ له دې کبله، ټول اجناس بايد ټول شي. همدا چې جېبي ملحقات له شکمن څخه واخيستل شي، په پلاستيکي نښه شوې کڅوړه کې ځای په ځای شي او په مناسب ډول ثبت شي. د تحقيق، نمايشي موسسوکې، يا د بلواګر فعاليتونو سره د آشنايی نمايش يا ننداره په تعقيبولو کې، د افغان جنايي مدرک ټولنی ټيم ته بايد د جېبي ملحقاتو، رسيدپاڼې، اسناد، وړې پاڼې (تبليغاتي پاڼې)، کتابچې، يا کاغذونه چې په سيمه کې ترلاسه شوي دي، يو نقل چمتو شي. سربېره پدې، افغاني همکار بايد يو لنډ بيان چمتو کړي چې څرګنده کړي اسناد چېرته او چا ترلاسه کړي. د افغان ملی امنيتي ځواک/ افغان ملي پوليسو مسئول بايد څرګندونه يا بيان لاسليک، د قطعي نوم، نېټه ذکر، او له پېښې سره د اجناسو تړاو يادداښت کړي.

**ب:** اسناد

(1) د پوره امکان سره اسناد ټول او په کاغذي کڅوړو کې وساتل شي (چې د ګوتو ناڅرګنده چاپونه وساتل شي).

(2) هغه اسناد چې د جنايي سيمې په بېلو ساحو کې ترلاسه شوي بايد په جلا توګه وساتل شي.

(3) په نخشه يا کروکي کې وښودل شي چې اسناد په کوم ځای کې ترلاسه شوي دي.

(4) څومره ژر چې امکان ولري اسناد د استخباراتي ارزښت له پلوه تفسير شي.

(5) د اسنادو عکس واخيستل شي ترڅو د اصلي سند د بېځايه کېدلو يا ورکېدلو په صورت کې خورا ډېر معلومات ترلاسه شي.

**ت:** وسلې {اسلحه}(د <u>"خ" ضميمه</u> او <u>"د" ضميمه</u> وليدل شي)

(1) د هرې وسلې عکس وړاندې له خوځولو څخه واخيستل شي. وروسته له عکس اخيستلو وسله خالي شي، البته وړاندې له وړلو څخه.

(2) د موندولو پر وخت د وسلې حالت وليکل شي.

(3) د وسلې مسلسلې شمېرې همدارنګه د ليدلو وړ اصطلاحاتو فهرست يا نوم اېښودنې عکس او يادداښت واخيستل شي.

(4) د ګوتو ناڅرګنده چاپونو او جنېتيکي نمونو څخه چې په وسلې باندې ښکاربږي ساتنه وشي. محدود شمېر کسان بايد وسله اداره کړي. له جاغورونو څخه مهمات ونه ايستل شي.

(5) که وسلې د مدارکو په صفت ټولېدلای او ساتل کېدلای شي باید په سیمه کې ویجاړې نشي. د وسلې کاروني فرصت د کمولو لپاره، وسلې باید هغو ساحو کې وساتل شي چې د عادي کاروني پر مهال د لمسولو احتمال یې لږ وي. د هغو وسلو ډول یا خطرناکه توکو په لمنځه وړلو کې د قطعي ثابت عملیاتي اجراآتو(موجوده حالت) سره سم عمل وشي.

(6) وسلې له مهماتو یا جاغورونو څخه جلا وساتل شي، مګر دا په ډاګه شي چې کوم مهمات له کومې وسلې سره ترلاسه شوي دي. له جاغورونو څخه مرمۍ د حسابولو پخاطر ونه ایستل شي – په مرمیو باندې احتمالاً د ګوتو چاپونه شته وي.

**ث:** چاودېدونکی مواد/ ځاي په ځاي شوی چاودېدونکی دستګاه برخې ( د "ذ" ضمیمه،"ر" ضمیمه، او"ز"  ضمیمه د نمونه یې فهرست لپاره ولیدل شي)

(1) هر راز چاودېدونکي مواد چې په سیمه کې تر لاسه کېږي، لکه کورني ساخت چاودېدونکي مواد باید یوازې د چاودېدونکو توکو د تخریب روزل شوي ټیم یا د ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه د تخریبولو ټیم افرادو لخوا اداره شي.

(2) د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه برخې یا ټوټې چه په سیمه کې ترلاسه کېږي، لکه فشاري تخته ګۍ، مسي مزی، سوېچونه، او د بطریو بنډلونه راټول، ثبت، او وساتل شي.

(3) د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه اړوند ټول مدارک باید د چاودېدونکو موادو د تخریب روزل شوي ټیم/ د ځای پر ځای شوي چاودېدونکي دستګاه د تخریبولو ټیم پرسونل سره رد او بدل شي ترڅو د چاودېدونکی موادو د کاراچوني ګډ ګروپ  لخوا طی مراحل شي.

(4) که بې خطره وي، د ټولو چاودېدونکو موادوعکسونه له خوځولو یا ویجاړولو څخه وړاندې واخیستل شي.

**ج:**د اطلاعاتو ساتني الکترونیکي دستګاه

(1) ټول ګرځنده ټلیفونونه، سیم کارتونه، او د اطلاعاتو ساتني آلات (دستګاه) ، لکه د کمپیوټر هارد ډرایوونه، تمب ډرایوونه (فلش ډسک) ، سي ډي، آي پاډونه، ایم پي 3، کمرې، نوري ډېسکونه، ویډیو ریکارډر، یو ایس بي دستګاوې، راټول شي.

(2) که دستګاه فعاله وي، فعاله دې پرېښودل شي. که غیر فعاله وي، پخپل حال دې پرېښودل شي. له سوېچونو سره کار ملری – سوېچونو ته فشار ورکول د اطلاعاتو د لمنځه وړلو لامل ګرځېدلای شي. بطرۍ یا سیم کارټ لیرې نشي، د اړیکو معلومات چک نشي، د ټلیفون ځواب ورنکړل شي، یا له دستګاه څخه کار وانخیستل شي.

(3) د برښنا ټول کېبلونه، مزي، او چارجرونه (چارج کونکی آلې) له دستګاه سره وساتل شي.

(4) د ګرځنده ټلیفون په اړه، وروسته له دې چې افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو او نړیوال سوله ساتی ځواک قطعي غړی د استخباراتي ګټه اخیستنې لپاره ټلیفون وکاروي، او د ټلیفون شمېرو غیرسري لسټ چې د ټلیفون په سیم کارتونو کې خوندي دي غوښتنه وکړي سیم کارټونه باید ډېر ژر بېرته ستانه شي. نوموړې قطعه باید د ټلیفون شمېرو غیرسري لسټ د افغانستان اسلامی جمهوری دولت څارنوالانو ته تیار کړي. د دې معلوماتو سره، دوي کولای شي چې د ټلیفون څښتن معلومولای شي او خپلو تحقیقاتو ته ادامه ورکولای شي. څارنوالان کولای شي چې د دغو معلوماتو څخه د بلواګرو اړیکې او مواصلاتي میتودونو په ښودلو کې هم کار واخلي ترڅو د شکمن جرم ثابت کړي.

**13. د بېلګو یا مدراکو ټولونه په پرمختللي توګه:** که لاندېني امکانات موجود وي، او ځایي څارنوالان او قاضیان لاندې ډول مدارک ومني، کېدلای شي چې د مدارکو ټولوني لومړنی یا ساده طریقه تقویه کړي. قاضیانوته باید مناسبه روزنه ورکړل شي. د مدرک ټولوني ډېر پرمختللی تخنیکونه خورا اختصاصی او فني دي، او یوازې هغه وخت کارول کېږي چې قاضیان وروزل شي چې ترڅو د علمي مدارکو اهمیت باندې پوه شي.

**الف:** د بایومتریکي تحلیل وسایلو سیستم (BATS)

(1) هغه افراد چې په سیمه کې بایومتریکي تحلیل وسایلو سیستم یا د چټک توقیف سیستم کاروي باید له بیومتریکي پلوه په سیستم کې شامل شي. که جایز وي، لازمه ده چې بشپړ ثبت او نوم لیکنه په پام کې ونیول شي، چې د سترګې د قزحیه سکن، د لسو ګوتو چاپونه، د مخ بشپړ عکس، او نور بیومتریکی معلومات پکې شامل وي. ارجاعی کروکی د شکمن د نیولو ځای سره یوځای په مناسبه توګه ثبت شي.

(2) که د حالاتو سره سم د بیومتریکي معلوماتو چټکه بیامونده وغوښتل شي، د بیومتریکی ځواکونو استخباراتي ماهرینو سره اړیکه ونیول شي تر څو د شکمنو نوم لیکنه او راجستر چټک کړي او د ګوتو د چاپونو دېټابېز له لیاري مقایسوي پلټنه وکړي.

(3) راټول شوي بیومتریکي معلومات باید د فایلونو لېږدوني پروټوکول له لیاري یا د بیومتریکی له لیاري پورته یا اپلوډ شي. د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه اړوند فعالیت د مشکوکیت په صورت کې، لازمه ده چې ترلاسه شوي بیومتریکي معلومات په مناسبې دوسیه یا فایل فورمټ (بیومتریکي تحلیل وسایلو سیستم د معلوماتو فایل یا دوسیه) او د فایلونو برښنایي لېږدونه کې موجود وي او د چاودېدونکی موادو د کاراچوني ګډ ګروپ ته د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه اړوند مدارکو سره واستول شی چې د کاروني اړتیا لري.

(4) که کارول شوی اجناس د نا ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه ماهیت ولري، بیا لازمه ده چې د ګډو اعزامي قواوو عدلي مرکز ته بیومتریکي معلومات چمتو شي. لازمه ده چې راټول شوی بیومتریکي معلومات په بیومتریکي تحلیل وسایلو سیستم د معلوماتو فایل یا دوسیهاو د فایلونو برښنايي لېږدونه کې خوندي وي او له نورو مدارکو سره چې له سیمې څخه ترلاسه شوي یوځای چمتو شي.

**ب:** د چاودېدونکو موادو آزمویل ( د X سپری، د بخار سپری)

(1) له توقیف نه وروسته سمدلاسه، د امکان په صورت کې، د چاودېدونکی مواد آزمویل، لکه د د X سپری یا د بخار سپری آزمايښتونه عملي شي، تر څو څرګنده شي چې ګواکې شکمن کس پدې ورستیو کې د نادره عناصرو مختلف ډولونه کارولي دي چې چاودېدونکي موادو استعمال په ډاګه کوي.

(2) د پاکونکی جسم یا جاروګک عکس له نږدې څخه واخیستل شي چې د پوڑ یا سپرې آزمویلو پایله په ډاګه کړي. یو بل اضافي عکس هم واخیستل شي چې د شکمن سره د جاروګک پایله په ډاګه کړي. د غوښتنې په وخت کې، یو ژباړل شوي چارټ یا نخشه تامین شي چې مختلف کیمیاوي مواد ښکاره کوي( یاددونه: نوموړی پاکونکی جسم یا جاروګک د وخت په تېرېدو سره پیکه کېږي او اخیستل شوی عکس یا انځور بوازنی دقیق مدرک ده چې ساتل کېږي) .

(3) لازمه ده چې روزل شوي افغان ملی امنیتي ځواک / افغان ملي پولیسو همکاران د چاویدونکی توکو د آزمویلو موجود مواد وکاروي. همکارافغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس باید د چاویدونکی توکو د آزمویلو او د آزموینې پایلې په اړه څرګندونه یا بیان ولیکی.

**ت:** د ګوتو ناڅرګنده چاپونه

(1) د ګوتو چاپونه په آسانی سره له منځه ځي. که ربړي/ لېټکس دسکلې(دستکشونه) موجود وي، د مدارکو یا ثبوتونو په لاس وهنه یا ارزیابی کې استعمال شي. له مدارکو سره د غیرضروری لمسون مخنیوي وشي. مدارک بوازې د اړتیا په وخت کې ارزیابی کېدلای شي. د مدارکو غیرضروري لاس وهنه کولای شي چې د ګوتو ناڅرګنده چاپونه چې په مدارکو پاتي دي کم کړي یا د متقابل ملوثیت له لیاري د ژوند ټاپې (DNA) مناسبې نمونه اخیستلو مخنیوي کولای شي( ژوند ټاپه یا DNA لاندې ولیدل شي).

(2) واړه، منقول اجناس بايد په کاغذي کڅوړو يا بکسونو کې ټول شي او د جنايي ځانګې لابراتوار ته د ارزيابی لپاره واستول شي.

**ث:** DNA يا ژوند ټاپه (ډاي اوکسي رايبوز نوکليک اسيډ)

(1) په سيمه کې موندل شوي اجناس باندې ممکن د DNA نښې موجودې وي چې شکمن د جنايت سره تړي. هغه مدارک چې ممکنه DNA ولري راټول شي او په مهرلاک يا سرغوچ شوې کاغذي کڅوړه کې وساتل شي. نوموړې کاغذي کڅوړه په دويمې کڅوړه کې کېښودل شي او خوله يې بنده شي. د هويت پيژندنی لاسي وسيلې (HIIDE) د ګروپ شمېره او يا په کاغذي کڅوړه باندې د تورن د ګوتو چاپ ، ثبت شي. همدارنګه بيوګرافيکي معلومات په کڅوړه باندې(نوم، د چا زوی، د زېږېدو نېټه، ټبر، کلی، او نور) شامل شي. د دې څخه هدف دا دی چې د DNA اړوند پنبه لرونکې خلی يا جاروګک له مناسبې هويت پيژندنی لاسي وسيلې (HIIDE) سره ونښلي او يا د ګوتو د چاپ کارت مدخل (د ننوتو لار) د ګوتو د چاپ دېټابېزکې ونښلول شي.

(2) هر لاس ته دوه ربړي/لېټکس دستکشونه ور واغوستل شي که موجود وي. د دسکلو(دستکشونو) دباندينی سيټ يا جوړه د بل جنس له ټولولو څخه وړاندې بدل شي ترڅو د احتمالي متقابل ملوثيت څخه مخنيوی وشي.

(3) د دې لپاره چې شکمن کس د هغې DNA سره چې د جنايت په سيمه کې ترلاسه شوې مطابقت وکړي، لازمه ده چې نوموړي شکمن کس څخه د DNA نمونه واخيستل شي. د يو جاروګک يا پنبه لرونکې خلي په استفادې سره د شکمن د خولې له مينځه د هغه د غومبوري دېوال له اوږدو څخه د DNA يوه نمونه واخيستل شي. نوموړې پنبه لرونکې خلی په کاغذي کڅوړه کې خوندي شي او په کڅوړه باندې د شکمن نوم، نېټه، وخت، او موقعيت لېبل ولګول شي. د متقابل ملوثيت څخه د مخنيوی لپاره د کڅوړې خوله بنده يا سرغوچ شي.

(4) يادونه: لانده مدارک او د DNA ځيني نمونې (د غومبوري نمونې، وينه، او نور) بايد په کاغذي کڅوړو کې ځاي په ځای شي تر څو محيط يې وچ شي او د بکټريا او چناسکی (قارچونه) د شتوالی او ودې له امله د مداروکو د تخريب مخنيوی وکړي.

**14. لانده يا خيشته اسناد (په لاس ليکل شوي اسناد)**

**الف:** په لانده اسنادو کې د لاس وهنې پرمهال، تل ربړی دسکلي او يو ماسک وکارول شي. که سند لوند وي، په احتياط سره وغوړول(سپړل) شي او پرېښودل شي چې په بشپړه توګه وچ شي. که سند په اوبو کې لوند خيشت شوی وي، په کاغذي کڅوړه کې ځاي په ځای شي ترڅو رطوبت يا نم يې جذب کړي. وروسته بيا، کاغذي کڅوړه په پلاستيکي کڅوړه کې کېښودل شي – پلاستيکي کڅوړه ونه تړل شي. سند د بې رنګی لپاره وليدل شي، داسې حال کې چې لوند وي وايستل شي، او پرېښودل شي چې کاملاً وچ شي.

**ب:** د هغو اسنادو لپاره چې د بدن مايعاتو پواسطې سره لانده شوي، ربړي/لېټکس دسکلې (دستکشونه) او ماسک استعمال شي. اجناس په کاغذي کڅوړه او واژه پلاستيکي کڅوړه کې ځاي په ځای شي. مرکز ته د بېرته راګرځېدو سره سم د قطعي طبي کلينيک سره د اسنادو د لاس وهنې او له منځه وړلو لپاره اړيکه ونيول شي.

**ت:** د اسنادو د حالت او محتوياتو د ثبتولو لپاره له ډيجيټل کمرې څخه کار واخيستل شي. اسناد په پلاستيکي کڅوړه کې د اوږدې مودې لپاره بند ونه ساتل شي.

## 15. د پېژندلو لپاره د شواهدو په نښه کول (لېبل لګول)

**الف:** لېبل يا ټکټ اېښودل د افغاني محکمو لخوا نغوښتل کېږي. اما، قطعات باید د امکان په صورت کې ټولو مدارکو باندې لېبل ولګوي. د لېبل لګولو پرمهال، مدارکو باندې باید په جلا توګه لېبل ولګول شي او د مدارکو هرې انفرادي برخې لپاره باید لاندېني موارد په پام کې ونیول شي:

(1) د جنس نوم؛

(2) د شکمن نوم/ د توقیف لېبل د ځانګړي جنس سره په تړاو کې؛

(3) د قطعي ټاکلي شمېره چې د مدارکو ځانګړې برخې ته ځانګړې شي؛

(4) د نیولو نېټه/وخت؛

(5) د جنس لنډه تشریح، چې د رنګ، مسلسلي شمېرې، او نورې معلومات پکې شامل وي؛

(6) دقیق موقعیت چې جنس د مصادرې پرمهال پکې موجود وو، چې ارجاعي کروکي (MGRS) او یا کوټه پکې شامل وي؛

(7) د توقیف کوونکی قطعی هویت یا شهرت (افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه او نړیوال سوله ساتی ځواک/ افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیس) ؛

(8) د هر لېبل یا ټکټ یو نقل د سوابقو د ساتلو په مقصد خوندي شي.

**ب:** ټول لېبلونه په دري یا پښتو ژبو باندې په مناسبه توګه وژباړل شي. که اصلي اسناد په دري یا پښتو ژبو کې لیکل شوي وي، انګرېزي ژبې ته واړول شي.

**ت:** منقول مدارک لکه "جیبي ملحقات" په جلا توګه په یوه پلاستیکي کڅوړه کې ځای په ځای شي او په مناسبه توګه لېبل پرې ولګول شي.

## 16. د شواهدو لېږدونه (د زماني ترتیب پر اساس د اسنادو جوړول)

**الف:** که امکان ولري، ټول شکمن کسان د لاندې مواردو سره ولېږدول شي:

**ب:** بشپړ عملی او تفسیرژباړل شوې افغاني توقیفي فورمه (د س ضمیمه ولیدل شي) د شکمن کس د ګوتو چاپ او دوه کسه افغاني شاهدانو لاسلیکونو سره.

**ت:** په سیمه کې د اخیستل شویو ټولو انځورونو غیرمحرمانه سلسله او د سیمې قوماندان لخوا د پېښو ژباړل شوی بیان.

**ث:** ټول فزیکي شواهد چې محکمې کې د قانونی تعقیب لپاره ضروري دي، لکه غیرفعالي(له کار غورځېدلی) وسلې او د د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه (IED) غېرفعالي برخې.

**ج:** بشپړ عملی او ژباړل شوې افغاني د تلاشي فورمه(د س ضمیمه ولیدل شي). باید له وړاندې ترلاسه شي که چېرې د توقیف پروسه له قانوني تعقیب څخه وړاندې د همکار افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو قطعاتو سره همغږی شوی وي. یو افغاني څارنوال کولای شي چې د ناځاپه مدرک یا ثبوت د موندلو په صورت کې د تلاشي لپاره د ټلیفون له لیارې خپله موافقه او رضایت اظهار کړي. که د تلاشي فورمه له وړاندې ترلاسه شوې نوي، مرکز ته د بېرته راګرځېدو سره سم بشپړه شي.

**چ:** د شاهد د څرګندونو بشپړ عملی او تفسير شوي فورمي، چي د شاهد د معلوماتو اړيکه له افغان ملکي افرادو او د افغان ملی امنيتي ځواک/ افغان ملي پوليسو دواړو څخه پکي شامل وي.

**ح:** د قطعي د اړيکي مرجع لپاره د سوداګريزي اړيکو معلومات، لکه ګرځنده ټيليفونونه که موجود وي، تر څو د تحقيقی مقصدونو لپاره د ملي امنيت رياست مستنطقينو او څارنوالانو سره اړيکه رامنځ ته شي.

**خ:** د شواهدو د لېږدوني بشپړ عملی او ژباړل شوي فورمه، لکه د DA 4137 فورمه ( د مدارکو/ملکيت سند جوړولو فورم).

**د:** جنايي تعقيب پوري تړلي د هر سند يا د هر مدرک برخه چي افغاني مقاماتو ته سپارل شوي ده ، نقل يا سوابق وساتل شي.

## IV. د شواهدو تصنيف

ټول مدارک او معلومات چي راټولېږي بايد غيرسري وي مګر دا چي د معلومات د پټ ساتلو لپاره يو ځانګړی دليل موجود وي. د تصنيفولو قاعده يا مرجع د پټ يا محرم مدرک يا ثبوت د لومړي پاڼي په ټل کي مشخصه شي.

## V. موخذ


1. 10-35 عدلي او د تضمين پر بنسټ ولاړو موخو خبرپاڼه (10 اپرېل)

(https://call2.army.mil.aspx?document=5898)

2. د CALL ساحوي کار اچوني پاڼه:(https://call2.army.mil/doc_index.aspx?ID=442).

3. د ATTP3-90.15 ساحوي کاراچوني عمليات (7/8/2010)

(https://akocomm.us.army.mil/usapa/doctrine/DR_pubs/dr_aa/pdf/attp3_90x15.pdf)

4. د CALL لاسي کتاب تکتيکي ساحوي کاراچونه او د پټنځي د تلاشي عمليات، شمېره 07-26 (د 2007 مې) چي په (https://call2.army.mil) کي ترلاسه کېږي.

5. ساحوي کاراچونه: د مدرک ټولوني خورا عملي لارښود (2008 فبروری) ( د تخنيکی مرستي کاري ګروپ، د متحده ايالاتو سمندري ځواک، او د متحده ايالاتو سمندري قول اردو لخوا په نشر رسېدلی)ږ

6. افغاني محکموکي د بنديانو د تعقيب لپاره د مدارکو راټولني لپاره د آيساف لارښود، د 2010 جون.

7. د آيساف 236 ثابت عملياتی اجراآت، د توقيفي عملياتو استخباراتي او عدلي مرسته، د 2009 کال د اکتوبر 20.

8. د آيساف 362 ثابت عملياتی اجراآت، د غير آيساف پرسونل توقيف، د 2009 کال د اګسټ 3.

9. د آيساف 503 ثابت عملياتی اجراآت، د مخدره توکو ضد عملياتوکي د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مرسته، د 2009 د اکتوبر 3.

10. د IJC 250ثابت عملياتی اجراآت، د دښمن نيول شويو موادو کاراچونه ، د 2010 د ډسمبر 23.

11. د RC-E د مدارکو د پرمختګ ثابت عملياتي اجراآت، د 2010 د جنوري 23.

12. IJC FRAGO 071-2009، مدرکي، تعقيب، او د پيښي د تعقيبولو پروسيجر، د 2009 د نومبر 17

13. ساحوي کاراچونه: د مدارکو ټولونه، USMC، د 2009 اکتوبر.

14. د IJC شمېره 10371.2, د ځای په ځای شوي چاودېدونکي دستګاه کاراچونه(مسوده)، د 2010 د ډسمبر 31

## الف ضميمه
## د ساحوي كاراچوني ټيم د غړو دندې

ټيم مشر

- ساحوي كاراچوني ټيم ته دستور وركول د ځېنې ضميمو په شمول
- له دندې څخه وړاندې ارزيابي او پلټنو تنظيم
- د تکراري تمريناتو تنظيم
- د عملياتو څارنه
- د ساحې ارزيابي له استخباراتي پلوه
- د شكمن د تجمع او ساتنې ځي مشخصول
- د پېښو د زماني ترتيب يادداښتونه
- د پلټنې لپاره د مهمو كوټو ټاكنه
- د سيمي د اسنادو ساتنه
- شکمن څخه د تکتيکي پوښتنو تنظيم
- د لوړرتبه چارواكو سره اړيكه نيول
- د شكمن د انتقال او تسليمې څارنه
- د اطلاعاتو ترلاسه كول
- د مداركو د موجودي څارنه
- د راپورونو د بشپړېدو څارنه
- د ټولو اسنادو او انځورونو(عكسونه) يوځاى كول

د ټيم مشر مرستيال

- د ساحوي كاراچوني ټيم په غونډه كي ګډون كول
- د ټيم مشر سره د رسمي اجازې اخيستلو كي مرسته
- د اجازې اخيستلو لپاره له وړاندې معاينه او تفتيش كول
- د ساحوي كاراچوني تجهيزاتو تنظيم
- د تکراري تمريناتو تنظيم
- له سيمي څخه د لومړني كتنې تنظيم
- د مداركو د ټولوني ځاى تعينول
- كوټو يا خونو باندې شمېره لګول
- ټيم مشر ته د مدرك ټولوني پلان په اړه راپور وركول
- په سيمه كي د پلټونكي او ثبتونكي سره مرسته
- د مداركو د كيفيت ارزيابي
- د مداركو چمتوكول د لېږدولو لپاره
- د مداركو د اسنادو بشپړول
- وظيفوي فعاليتونو او پايلو په اړه د بيان چمتوكول
- د ساحوي ټيم تجهيزاتو بيا سمبالول

## د الف ضمیمي ادامه
## د ساحوي کاراچوني ټیم د غړو دندې

ثبتونکی

- له ټیم مشر څخه د دندې په اړه دستور اخیستل
- د اضافی ثبتونکو روزل
- له دندې څخه وړاندې ارزیابي او پلټنه
- د ساحوي کاراچوني وسایلو په موجودي کې مرسته
- د تکراري تمریناتو تنظیم
- د هدف ساحي دباندینی خوا انځور(عکس) اخیستل
- د هدف ساحي دننه خوا انځور اخیستل
- د موندلو پرمهال د مدارکو انځور(عکس) اخیستل
- شکمن سره د مدارکو انځور اخیستل
- د هدف ساحي نخشه یا کروکی کښل
- د شکمنو کسانو د هویت عکس اخیستل
- د تورن کوچنی غوټه (پنډه کې) کې د ټولو انځورونو او نخشو(کروکي) اچونه
- وظیفوي فعالیتونو او پایلو په اړه د بیان چمتوکول
- د ټیم مشر مرستیال سره د ساحوي کاراچونی تجهیزاتو کې مرسته

پلټونکی

- له ټیم مشر څخه د دندې په اړه دستورات اخیستل
- د اضافي پلټونکو روزل
- د اجازې اخیستلو لپاره له وړاندې معاینه او تفتیش کول
- د ساحوي کاراچوني وسایلو په موجودي کې مرسته
- د تکراري تمریناتو تنظیم
- د مشهود ارزښت لرونکي اجناسو لپاره د سیمي تلاشي
- ثبتونکي ته د مدارکو د موقعیت په اړه اطلاع ورکوي تر څو د عکس اخیستلو ته اجاز ورکړي
- د مدرکي اجناسو د موندلو ځاي په اړه یادداښتونه
- د مدارکو ګېډی(غوټه) کول
- مدارکو باندې لیبل لګول
- وظیفوي فعالیتونو او پایلو په اړه د بیان چمتوکول

د شکمن اداره کونکی/د قانون تنفیذ کارپوه/ د بشري استخباراتو تکتیکي ټیم غړی

- د غونډې پر مهال معرفي شي
- د سیمي تجمع ساحي ته د شکمن انتقال
- تلاشي(پلټنه)، چوپول(کرارول)، ببلول، ساتنه، په شا تګ، لیبل لګونه
- د تکتیکی پوښتنو تنظیم
- ټیم مشر ته مدارکو او اطلاغاتو په اړه راپور ورکول

**ب ضمیمه**
**د ساحوي کاراچوني ټیم د افرادو ګړندی عملیاتی لست**

د جنایت سیمي او جنايي مدارکو را ټولوني لست

____ ساحه باید مصئونه وي او له اړتیا سره سم د چاودېدونکی موادو ویجاړولو ټیم یا نظامی عملیاتی سپیانو پواسطي سره پاکه شي.

____ د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم مشر باید لومړنی غونډه تنظیم کړي.

____ د جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر او د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم مشر باید د سیمي څخه لیدنه ترسره کړي.

____ د جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر او د افغان جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر باید د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم مشر، افغانستان کي مېشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو د جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر، یا د نړیوال سوله ساتي ځواک د جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر ته د پاتي امنیتي مسایلو یا د دښمن خطراتو په اړه راپور ورکړي.

____ د جنایي مدارکو ټولوني افغان ټیم مشر د مدارکو ټولوني لپاره د تجمع یا ټولوني ساحه ځانګړې کوي.

____ د افغان جنایي مدرک ټولوني ټیم افراد او افغانستان کي مېشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو یا د نړیوال سوله ساتي ځواک د جنایي مدرک ټولوني ټیمونو افراد د جنایت په سیمه کي تیتبري ترڅو سیمه طي مراحل کړي.

___ د افغان جنایي مدرک ټولني ټیم مشر اړوند مقاماتو ته معلومات وړاندي کوي او هغوي څخه هدایات تر لاسه کوي.

____ انځورونه - د چاودېدونکی موادو د کاراچوني افغاني موظف ګروپ غړی د ثابت عملیاتي پروسیجر سره سم باید د عکس اخیستل پیل کړي.

____ نخشه (کروکی) - د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم مشر د ثابت عملیاتي پروسیجر سره سم باید ډیاګرام (هندسي شکل) وکښي.

____ د شاهد څرګندوني – د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم افراد باید له موجودو ملکي افرادو یا همکار افغان ملی امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو څخه وغواړي چي د شاهد په صفت بیان ورکړي.

____ د فزیکی شواهدو ټولونه - د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم غړی باید د ثابت عملیاتي پروسیجر سره سم فزیکی شواهد راټول کړي.

____ افغان جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر د سیمي طی مراحلو لپاره باید له سیمي څخه وروستی لیدنه تر سره کړي .

____ د افغان جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر باید د ثابت عملیاتي پروسیجر سره سم مدارک انتقال او خوندي کړي

____ د افغان جنایي مدرک ټولوني ټیم مشر باید وروستنی راپور او بیانات بشپړ کړي چي شاملېږي پر لاندي مواردو باندي خو دوی پوري محدود ندي:

____ ټولو مدارکو باندي په مناسب توګه په دري یا پښتو او انګریزی لیبلونه ولګول شي.

____ افغاني بیان یا څرګندونه چي هغي سیمه اویا هدف ته د ورتللو دلیل په ډاګه کړي (د امکان په صورت کي).

____ افغاني بیان یا څرګندونه د مدارکو له منځه وړل، د مدارکو د لمنځه وړلو لامل، ځای، او لمنځه وړونکی کس څرګندوي (د امکان په صورت کي).

____ افغاني بیان باید عکسونه د معتبر مدرک په صفت او دا چي په هېڅ بڼه یا وضعیت کي نه بدلېږي، د قطعي نوم چا چي عکسونه اخیستي، موقعیت (کلی، ښېښه، او یا ارجاعی کروکی)، او هر عکس د افغان جنایي مدرک ټولوني موظف ټیم غړي لخوا لاسلیک شي (څرګندونه یا بیان ممکن د یو عکس ترشا لیکل شوی وي).

**د "ب" ضميمې (ادامه)**

**د ساحوي كاراچوني ټيم د افرادو ګړندی عملياتی لست**

____ د افغانی شاهدانو څرګندوني(لږ تر لږه 2) له ملکی افرادو يا د افغان ملی امنيتي ځواک/ افغان ملي پوليسو مناسب افرادو څخه.

____ د افغان جنايي مدرک ټولوني موظف ټيم مشر، بايد په افغانستان کي مېشته د امريکا متحده ايالاتو ځواکونو، يا د نړېوال سوله ساتي ځواک پرسونل سره د عدلي ارزيابي لپاره د مدارکو د لېږدوني په اړه همغږي وکړي.

____ د افغان جنايي مدرک ټولوني موظف ټيم مشر بايد له افغانی څارنوال سره مشوره وکړي او د راټلونکو تحقيقاتو په اړه ورڅخه لارښوونه ترلاسه کړي.

## د ت ضمیمه
## د ساحوي ټیم تجهیزاتو وسایل

- 3x5 کارت د مدارکو د لیبل لګولو لپاره
- د کمرې یا غږ ثبتونکی دستګاه بطرۍ
- د شکمن کسانو (مظنون) د سترګو د ترلو لپاره عینکې (یو ډول خاص عینکې چې ترې هیڅ نه ښکاره کیږي).
- کاغذي کڅوړې د مدارکو د ساتلو او د ګوتو ناڅرګنده چاپونو د ساتنې لپاره
- کېبلې غوټې د وسلو د ټینګولو لپاره
- د مدارکو د ترلو او انتقال لپاره ډبل کاغذې کارتنونه یا بکسونه
- د سي ډي پوښونه چې سي ډي/ډي وي ډي (CDs/DVDs) څخه د انتقال پرمهال ساتنه وکړي
- د زماني ترتیب په اساس د اسنادو لیبل لګونه
- تباشیر
- کیمیایي چراغ د مدارکو د ټولونې ساحې نښه کولو لپاره
- د فورمو د تنظیمولو او د لیلکو سطحې برابرولو لپاره د لاس لاندې تخته
- ډیجیټل کمره، د حافظې کارت(میموري کارت) سره چې لږ تر لږه (1GB) ظرفیت ولري، د سیمې د مدارکو لپاره (اضافي بطرۍ)
- د DNA تجهیزات یا وسایل چې په سیمه کې وینه یا د بدن مایعات (د غومبوري نمونې) واخیستل شي.
- مجرا لرونکی پټی (یو ډول رابرټیپ)د مدارکو د خوندي کولو، د سیمو نښه کولو یا د مدارکو د لیبل لګولو لپاره.
- د مدارکو ټکټونه یا لیبلونه
- د چاودېدونکی موادو د پاتې شونې ذراتو د څیړنې تجهیزات
- په سیمه کې ترلاسه شوی د ګوتو چاپونو د راټولولو لپاره د ګوته لګولو تجهیزات او د قسم پانو لپاره د رنګ وچونکی
- د تیارو سیمو د پلټنې لپاره لاسي چراغونه
- ارتجاعي ولچکونه د شکمنو د ولچک کولو او د وسلو د ټینګولو لپاره
- فورمې (سوګند پاڼې، د مدارکو د موجودې فورمه، او نور)
- د سیمې د موقعیت موندنې سیستم (GPS) آخذه ترڅو د راپورونو یا اطلاعاتو لپاره موقعیتونه په نښه شي.
- د نخشې کښلو سطحه یا صفحه
- د ټوپک بارودو پاتې شوي ذراتو د څیړنې تجهیزات (GSR)
- د خزلو یا کثافاتو زیات مقاومت لرونکی کڅوړې د اجناسو د ساتلو او انتقال لپاره
- لانټین/چراغونه
- ستر مانیلایي پاکټونه د اسنادو او د مدارکو ورو برخو انتقال لپاره
- لویه چانټه د ساحوي کاراچونې ټولو تجهېزاتو د ساتنې لپاره، او یوه وړه چانټه د ګزمې پر مهال د یو شمېر ځانګړو تجهیزاتو د ساتنې لپاره
- ماسک چې د لاندو اسنادو (په لاس لیکل شوي اسناد) په ساتنه کې وکارول شي
- مولټی- ټول آله (هغه لاسي آله چې له ډېرو آلاتو څخه جوړه ده) چې د واز اجناس پرې غوڅ شي او د اړم په صفت وکارول شي
- لیکانې (قلمونه)، پنسلونه، او کاغذ
- دایمې مارکر قلمونه د مدارکو د کڅوړو د نښانې کولو لپاره
- د پرسونل محافظوي تجهیزات (PPE) د شکمنو لپاره چې د انتقال پرمهال یې په تن کړي
- د خونو یا کوټو د شمېرې له وړاندې جوړ شوي کارتونه چې په خونو باندې لګول کېږي پرته لدې چې په دیوالونو باندې ولیکل شي
- د تشریح کولو تیر/ خط کښ چې په عکس کې د مدارکو تر څنګ د اندازه نیونې لپاره ایښودل کېږي

**د ت ضميمه (ادامه)**

**د ساحوي ټيم تجهيزاتو وسايل**

- د ټوپک پاکونکی ټوکر يا جاروګک او د DNA د ټولولو پاکټونه
- ربړي دسکلي (دستکشونه) چې د مدارکو د خرابي څخه د مخنيوي لپاره په لاس کيږي
- د خوني يا کوټي پرده چې د عکسونو لپاره د زميني يا پس منظر په صفت وکارول شي
- د جراحی قيچی د ټېپ يا پټي د غوڅولو لپاره
- ويډيويی کمره او غږ ثبتونکی آله د ساحوي ثبت او د ليکلو د کمولو لپاره
- مرطوب دسمالونه
- سپين لېبلونه د هغو لويو اجناسو د لېبل لګولو لپاره چې په کڅوړه کې نه ځاييږي
- ځنځير لرونکی کڅوړې او کاغذي کڅوړې د مدارکو د ساتنې لپاره
- ځنځيري غوټې د مدارکو خوندي کولو لپاره

## د ث ضمیمه
## انځورونه – بهرني



پورتني دوه عکسونه یو انګړ په ډاګه کوي. د کیڼې خوا عکس د کور اړیکه له سړک سره تشریح کوي. د ښې خوا عکس د نقلیه واسطې اړیکه د کور سره ښايي.



پورته عکس د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه ساحه د کور سره په اړیکه کې انځوروي او د ځای په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه او د تورن د کور تر منځ د واټن لپاره ښه طرحه وړاندې کوي.

**د ث ضميمې (ادامه)**
**انځورونه – بهرني**



پورته عکس ټول هغه اجناس په ډاګه کوي چې په پټنځای کې موندل شوي.



پورته عکس هغه اجناس په ډاګه کوي چې په پټنځای کې په يو صندوق کې موندل شوي چې په پورتني عکس کې انځور شوی ده.

**د ث ضمیمې (ادامه)**

**انځورونه – دننه یا داخلي خواه**






پورتنی کین لوری عکس د انګړ عمومي دروازې کونج ده چې هلته یو ګرځنده ټیلفون ترلاسه شوی وو. پورتنی ښی لوري عکس د دروازې متفاوت لید په ډاګه کوي کوم چې په پورتني کین لوري عکس ولیدل شوه. لاندېنی کین لوری عکس په انګړ کې د ټلیفون د موندولو ځای ته نږدې یوه کوټه ښایي. د نوموړې کوټې دروازه په لاندېنی ښی لوری عکس کې ښودل شوې ده.







**د ث ضمیمې (ادامه)**
**انځورونه – مدارک**



د انځورونو دا لړۍ د وسلو پټنځي محتویات په یو سرپوښلي خونه کې په ډاګه کوي او وروسته په یوې ځانګړې وسلې متمرکزه کېږي چې نښاني یا علامې، ساخت، او د هرې وسلې د پورته خوا نږدې انفرادي عکسونه واخلي.



**د ث ضميمي (ادامه)**
**انځورونه – مدارک**





**د ث ضمیمي (ادامه)**
**انځورونه – مدارک**





د عکسونو دا لړۍ د وسلي یو پټنځی په ډاګه کوي چې د ونې په پاڼو پوښل شوي، او په کوم ځای کې چې وسلې په تدریج سره لوڅې شوي یو پرمختګ په ډاګه کوي. د دې لړۍ په پای کې د پټنځي د بشپړې نخشې عکس ده.







**د ث ضميمې (ادامه)**
**انځورونه – مدارک**

**د تورن عکس اخيستل**


د مدارکو عکس بايد د موندلو په ځی کې واخيستل شي وړاندې له دې چې د لاندېني عکس لپاره سره يوځای شي

(يادونه (پامرنه وکړي): لازمه ده چې ستاسو عکسونه د تورن مخ پټ نه کړي- دا کار پدې عکس کې د روزنې په مقصد اجرا شوي دي).





**د چ ضمیمه**
**نخشه یا کروکی**

لازمه ده چي د قطعي د اړیکي معلومات او هغه کس چي نخشه یا کروکي یي کښلي په پام کي ونیول شي.



**د چ ضمیمه**
**څرګندونه(بیان)**


Abdula Jan's mosque on
Motorcycle. They wanted
to kill me. But son of
Haji Abdula Jan guaranteed
me. They released me.
The reason they wanted
to kill me was because
they wanted to put IEDs
in his village, but I told
them no, so they wanted
to kill me. I saw them
with IEDs and AK-47.
Once again, I confirm
these men are Taliban.
Abdul Ahad is a commander.
Haji Sher
Mohammed Khan



لازمه ده چي په څرګندونه (بیان) کي د "څوک یا چا، څه، کله، چېرې، ولې، او څنګه" مسایل شامل وي چي د افغاني جنایي محکمو لخوا پلټل کیږي. داسي یو مثال باید په څرګندونه کي شته وي چي اساسی پوښتني چي په ټوله څرګندونه کي راغلي په نښه کړي او بې پایه پوښتني پکي شامل وي.

## د ح ضميمه

## په استوګن ځيونو کې د وسلو پټن ځای

____ که وسلې پټې وي، وړاندې لدې چې وخوځول شي عکس يې واخيستل شي، يا که په صندوقونو/قوطيو کې وي، لازمه ده چې پوښ يې لرې وي ترڅو عکس په ډاګه کړي چې په قوطي يا صندوق کې څه شی ده.

____ د هغې خونې يا ساحې عکس واخيستل شي چې وسلې يا نور منع شوی مالونه (قاچاقی مال) پکې ترلاسه شوي.

____ د هر شکمن او وسلې يوځايي عکس واخيستل شي.

____ که له يوو څخه ډېرشکمن کسان وي، د ټولو شکمنو کسانو عکس له پټنځی سره يوځای واخيستل شي.

____ د وسلو، لاسي بمونو، د چاودني مزيو، د شوبلې (ټانک) ضد راکټونو(RPG)، مهماتو، او نورو عکس له نږدې څخه واخيستل شي.

____ د شکمن د کور بهرني خوا (انګړ، ديوال، د ننوتو او وتو لارو، او لويو نښو) عکس واخيستل شي.

____ په مناسبو فورمو کې(مدرک/ملکيت، د شاهد بيان، او توقيف يا نيوني)، ټولې هغه وسلې او منع شوی مالونه چې په سيمه کې موندل شوي، لست شي.

____ لږ تر لږه د دوو شاهدانو څرګندوني واخيستل شي.

____ د کور بيا په ځانګړې توګه د هغې کوټې نخشه يا کروکی وکښل شي چې منع شوی مالونه (قاچاقي مال) پکې ځای په ځای شوي وو.

____ مدارک راټول او لېبل يا ټکټ پرې ولګول شي.

**د خ ضمیمه**

**د استوګن ځیونو څخه دباندې د وسلو پټنځی**

____ که وسلې پټې وي، وړاندې لدې چې وخوځول شي عکس يې واخیستل شي، یا که په صندوقونو/قوطیو کې وي، لازمه ده چې پوښ يې لرې وي ترڅو عکس په ډاګه کړي چې په قوطي یا صندوق کې څه شی ده.

____ د هر شکمن او موندل شویو وسلو عکس واخیستل شي.

____ که له یوو څخه ډېر شکمن کسان وي، د ټولو شکمنو کسانو عکس له پټنځی سره یوځای واخیستل شي.

____ د وسلو، لاسي بمونو، د چاودني مزیو، د شوبلې (ټانک) ضد راکټونو (RPG)، مهماتو، او نورو عکس له نږدې څخه واخیستل شي.

____ د شکمن د کور او له کور سره په تړاو کې د وسلو د پټنځی موقعیت عکس واخیستل شي ( دا عکس له کور څخه د واټن معلومولو لپاره او داچي تورن د نوموړی ملکیت څښتن ده، پکارېږي. د تورن کور باید په زمینه یا پس منظر کې وي).

____ که وسلې د شکمن د کور په انګړ کې وي، د انګړ د دیوال عکس واخیستل شي ( یاددونه: دا عکس د دې لپاره پکارېږي چې په ډاګه کړي چې کور یا ملکیت ته په آسانی سره لاسرسي نشي کېدلای).

____ د انګړ عکس واخیستل شي ( یاددونه: دا عکس د کور د نخشي ښودلو لپاره اخیستل کېږي).

____ په مناسبو فورمو کې (مدرک/ملکیت، د شاهد بیان، او توقیف یا نیونې)، ټولې هغه وسلې او منع شوی مالونه چې په سیمه کې موندل شوي، لست شي.

____ لږ تر لږه د دوو شاهدانو څرګندونې واخیستل شي.

____ د کور بیا په ځانګړې توګه د هغې کوټې نخشه یا کروکی وکښل شي چې منع شوی مالونه (قاچاقي مال) پکې ځای په ځای شوي وو.

____ مدارک راټول او لېبل یا ټکټ پرې ولګول شي.

**د "د" ضمیمه**

**وسلې د نقلیه وسایطو په منځ کې**

____ د نقلیه واسطې په منځ کې د ځاي په ځاى شویو وسلو عکس واخیستل شي.

____ د ټول موټر یا نقلیه واسطې عکس واخیستل شي.

____ د نقلیه واسطې د لایسنس ځې عکس واخیستل شي.

____ د وسلو، نقلیه واسطې، او نورن یوځایی عکس واخیستل شي.

____ د ټولو موندل شویو وسلو او منع شوي مالونو له نږدې څخه عکسونه واخیستل شي. که منع شوي مالونه (قاچاقي مالونه) په کارتن یا صندوق کې وي، لازمه ده چې واز شي، او د هر هغه څه چې د کارتن یا صندوق کې شته، عکس واخیستل شي.

____ د هغې سیمې عکس واخیستل شي چې موټر پکې ولاړ وو.

____ د موټر د جواز سیر عکس له نږدې څخه واخیستل شي.

____ د موټر یا نقلیه واسطې د شاسي شمېره (VIN) عکس واخیستل شي. د موټر د شاسي شمېره د چلونکی لوري ته د موټر د مخ ښیښې لاندې یا د دروازې د اوارې برخې په منځ کې ترلاسه کېدلای شي.

____ په یاد مو وي چې د شاهدانو په بیان یا څرګندونو کې چلونکی او سورلی مشخص شي.

____ د موټر د جوازسیر او د سورلیو د تذکرې عکس واخیستل شي تر څو د موټر څښتن وپېژندل شي.

____ په مناسبو فورمو کې (مدرک/ملکیت، د شاهد بیان، او توقیف یا نیوني)، ټولې هغه وسلې او منع شوی مالونه چې په سیمه کې موندل شوي، لست شي.

____ لږ تر لږه د دوو شاهدانو څرګندوني واخیستل شي.

____ د موټر نخشه یا کروکی د څېرمه سړک له نښو سره وکښل شي چې سړکونه پکې شامل شي.

____ مدارک راټول او لېبل یا ټکټ پرې ولګول شي.

## د "ذ" ضميمه

## نقليه وسايطو کې ځای پر ځای شوی چاودېدونکی توکی

____ څو عکسونه واخيستل شي تر څو وروسته له دې چې د چاودېدونکو موادو د تخريب روزل شوي ټيم/ د ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو د تخريبولو ټيم سيمه پاکه کړي اوښتي تاوانونه په ډاګه کړي.

____ يو عکس واخيستل شي چې سړک ته اوښتی تاوان وښايي.

____ د امکان پصورت کې، د موټر پاتي شونو، لکه د موټر پلک، راجستر، او د شاسۍ شمېرې عکس واخيستل شي.

____ د اهدافو د نقطو څو عکسونه واخيستل شي، که شکمنو کارولی وي.

____ د هدف سيمي عکس واخيستل شي چې په انګړ يا زمينه کې ويجاړ شوی موټر په ډاګه کوي.

____ د شکمنو د نيونې ځای عکسونه د هدف سيمي سره په تړاو کې واخيستل شي ( ياددونه: دا عکس د واټن د ښودلو لپاره پکارېږي).

____ د هغه ځای عکس واخيستل شي چې شکمن کسان د چاودنې څخه وروسته د لومړی ځل لپاره افغانستان کې ميشته د امريکا متحده ايالاتو ځواکونو او نړېوال سوله ساتی ځواک لخوا ليدل شوي ( ياددونه: دا عکس د واټن او د ځاي په ځای شويو چاودېدونکو موادو د ليدګوټ لپاره پکارېږي).

____ د چاودنې دستګاه عکس واخيستل شي، که وموندل شوه.

____ د چاودنې دستګاه او شکمن عکس واخيستل شي، که نوموړې دستګاه وموندل شوه.

____ د چاودېدونکی موادو ازمويل په ټولو شکمنو او موټرو باندې اجرا شي او پايلې يې ثبت شي. ټولې پايلې د لوړې(قسم) په اسنادو کې کېښودل شي.

____ په شکمنو باندې د چاودېدونکی موادو د ازمويلو بهير عکس واخيستل شي.

____ لازمه ده چې د عکسونو شمېر او هغه چا چې عکسونه اخيستي ثبت کړل شي.

____ يوه نخشه(کروکی) وکښل شي.

____ لږ تر لږه د دوو شاهدانو څرګندونې واخيستل شي.

____ مدارک راټول او لېبل يا ټکټ پرې ولګول شي.

## د "ر" ضمیمه

## نقلیه وسایطو کې ځای پر ځای شوی نا چاودلي چاودېدونکي توکي یا ځای پر ځای شوي توکي

عکسونه یوازې د مصئونیت په صورت کې اخیستل کېږي. لږ تر لږه، د ځای پر ځای شویو چاودېدونکی دستګاه د سیمې څخه د مدارکو د راټولنې نه وړاندې د چاودېدونکو موادو د ویجاړولو روزل شوي ټیم/ د ځای پر ځای شویو چاودېدونکی دستګاه د ویجاړولو ټیم سره باید سلا (مشوره) وشي.

____ د ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا موادو څو عکسونه واخیستل شي.

____ د ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا موادو او له سرک سره په تړاو کې د دې د ځای عکس واخیستل شي.

_____ د اهدافو د نقطو څو عکسونه واخیستل شي، که شکمنو کارولی وي.

_____ د هدف سیمې عکس واخیستل شي چې په انګړ یا زمینه کې ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا مواد په ډاګه کوي.

_____ د شکمن د نیونې ځای عکس د هدف سیمې سره په تړاو کې واخیستل شي ( یاددونه: دا عکس د واټن د ښودلو لپاره پکارېږي).

_____ د شکمن د نیونې ځای عکس د ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا موادو سره په تړاو کې واخیستل شي ( یاددونه: دا عکس د واټن د ښودلو لپاره پکارېږي).

د هغه ځای عکس واخیستل شي چې شکمن کس د ځای پر ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا موادو له کشف څخه وروسته د لومړی ځل لپاره د قطعي لخوا لیدل شوی وو ( یاددونه: دا عکس د واټن او د ځاي په ځای شوی چاودېدونکی دستګاه یا موادو د لیدګوټ لپاره پکارېږي).

____ د چاودنې دستګاه عکس واخیستل شي، که وموندل شوه.

____ د چاودنې دستګاه او شکمن عکس واخیستل شي، که نوموړې دستګاه وموندل شوه.

____ د چاودېدونکی موادو ازمویل په ټولو شکمنو باندې اجرا شي او پایلې یې ثبت شي. ټولې پایلې د لوړې(قسم پاڼې) په اسنادو کې کېښودل شي.

____ په شکمنو باندې د چاودېدونکی موادو د ازمویلو بهیر عکس واخیستل شي.

____ د شاهدانو څرګندونی (بیان) باید د عکسونو شمېر او هغه چا چې عکسونه اخیستي تشریح کړي.

____ د سیمې یوه نخشه (کروکی) وکښل شي.

____ لږ تر لږه دوه قسم پاڼې واخیستل شي.

____ مدارک راټول او لېبل یا ټکټ پرې ولګول شي.

## د "ز" ضميمه

## چاودلې ځای پر ځای شوي چاودېدونکې دستګاه يا مواد

____ د بريدونو او يا حملاتو موقعيت عکسونه واخيستل شي ( يادونه: دا عکسونه بايد د نقليه وسايطو يا ملکيتونو ويجاړتيا يا تاوانونه انځور کړي).

____ د ټولو وسلو او منع شوی مالونو (قاچاقی مال) عکسونه واخيستل شي، ترڅو د موډل او مسلسلي شمېرو عکس له نږدې څخه واخيستل شي، البته که عملي وي.

____ د ټولو شکمنو کساونو عکسونه له نيول شوېو وسلو او قاچاقی موادو سره واخيستل شي.

____ د مرميو د پوښونو عکس واخيستل شي.

____ طبي سوابق او يا د روغتون مکتوبونه د شخص ټولو جروحاتو په اړه بايد شامل شي.

____ که پرسونل په بريد يا جګړه کې ووژل شي، لازمه د د هر وژل شوي کس لپاره د مړينې تصديق(سرټيفکېټ) ډک شي.

____لږ تر لږه دوه قسم پاڼي واخيستل شي.

____ يوه نخشه(کروکی) وکښل شي.

____ مدارک راټول او لېبل يا ټکټ پرې ولګول شي.

**د "ژ" ضميمه**

**تبليغات**

____ د ټولو کمپيوټرونو، ګرځنده ټليفونونو، امريکايي واړه لاسي خاص کمپيوټرونه (palm pilots)، د اطلاعاتو د انتقال وړه آله (فلش ډېسک)، سي ډي ګانې(CDs)، ډي وي ډي ګانې(DVDs)، د عکاسي کمرې، ويډيويي تجهيزات، او ډېسکونه.

____ د کاغذي تبليغاتي موادو، لکه شب نامي عکس واخيستل شي.

____ د مدارکو د موندلو د موقعيت يا ځاي عکس واخيستل شي.

____ له مدارکو سره د ښکمن عکس واخيستل شي.

____ د ټولو ښکمنو کسانو تذکرې، ويزې، پاسپورټونو عکس واخيستل شي او ضبط شي. که چېرې کوم جنس ورک شي نقلونه يا کاپي ګاني يې واخيستل شي.

____لږ تر لږه دوه قسم پاڼي واخيستل شي.

____ يوه نخشه(کروکي) وکښل شي.

____ مدارک راټول او لېبل يا ټکټ پرې ولګول شي.

# د "س" ضميمه
# فورمي او موخذونه

د كشف او تحقيق 1 مادي سره سم د نيوني راپور پانه

| د نيوني نېټه | د نيوني ځاى |
|---|---|
| د نيوني وخت | د نيوني دول |
| د شكمن پيژندنه | |
| | |
| د شكمن رضايت/لاسليک | د شكمن په نيونه كې د شاملو كسانو پيژندنه/لاسليک |
| | |

د جرمونو سره د مبارزې عمومي رياست

د كورنيو چارو وزارت كال: / / ۱۳۹۰

د پيښې د راپور (۱) شمېره فورمه


| | | |
|---|---|---|
| د پيښي شميره | | |
| د پيښي شميره، د پيښي نېټه او ځای | د پيښي دول | |
| | د پيښي ځاى | |
| | د پيښي شميره او د ثبت نېټه | |
| | د پيښي شميره او په مركزي رياست كې د ثبت شميره | |
| د نيول شوي شكمن پيژندنه | نوم | |
| | د پلار نوم | |
| | د نيكه نوم | |
| | استو ګنځی | اصلي |
| | | فعلي |
| | شغل | |
| | عمر | |
| د شكمن حالت | د نيوني نېټه | |
| | د شكمن حالت | |
| د شكمن پيژندنه | نوم | |
| | د پلار نوم | |
| | د نيكه نوم | |
| | استو ګنځی | اصلي |
| | | فعلي |
| | شغل | |
| | عمر | |
| د نيول شوي شكمن پيژندنه | نوم | |
| | د پلار نوم | |
| | د نيكه نوم | |
| | استو ګنځی | اصلي |
| | | فعلي |
| | شغل | |
| | عمر | |
| اوښتي تاوان | شخص ته | |
| | دولت ته | |
| | د جرم علت | |
| | د جنايت دول | |
| | د جرم اثباتيه مدارک | |

د پيښي تفصيل:

د مستنطق لاسليک:

د مسئول افسر پيژندنه او لاسليک:



## د "س" ضميمې (ادامه)
## فورمې او موخذونه



| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Location of Body Search: | | | | | | | | | | | |
| Date: | | Time: | | | | | | | | | |
| Person Searched | | | | | | | | | | | |
| Current Residence | | | Permanent Residence | | | Duty | Rank | Identity | | Number | |
| Province | District | Village | Province | District | Village | | | Son of | Name | | |
| | | | | | | | | | | 1 | |
| | | | | | | | | | | 2 | |
| Searching Officers | | | | | | | | | | | |
| Signature | | | Branch | Duty | Rank | Identity | | Number | | | |
| | | | | | | Son of | Name | | | | |
| | | | | | | | | 1 | | | |
| | | | | | | | | 2 | | | |

During the course of a search of the person listed on this document, the following items were discovered:

Cases of Containment or Non-Containment (incarceration vs. non-incarceration) of the Person Listed

| د شخص د تلاشي ځاي | |
|---|---|
| نېټه | وخت |

تر تلاشي لاندې شخص

| شمېره | پېژندنه | | رتبه | دنده | دایمی استوګنځی | | | اوسنی استوګنځی | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | **د پلار نوم** | | | ولایت | اولسوالی | کلی | ولایت | اولسوا لی | کلی |
| ۱ | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | |

د تلاشي افسران

| شمېره | پېژندنه | رتبه | دنده | څانګه | | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | **د پلار نوم** | | | | |
| ۱ | | | | | | |
| ۲ | | | | | | |

**هغه اجناس چې د دې شخص د تلاشي پر مهال ترلاسه شوي:**

د دې شخص د بندیتوب یا نه بندیتوب(قید ونه یا نه قید ونه) پېښه

# د "س" ضمیمي (ادامه)
# فورمي او موخذونه

Statement Sheet

Name:
Son of:
Grandfather:
Original Residence:
Present Residence:
Previous Job:
Current Job:
Age:
Marital Status:
Education:
Monthly Income:
Number of Family Members:
Identification Number:

Brother:
Nephew:
Paternal Uncle:
Paternal Cousin:
Maternal Uncle:
Maternal Cousin:
Father-in-Law:
Brother-in-Law:
Place of Capture:
Date of Capture:
Date of Statement:
Place of Statement:

Name:(_______________________)Son of:(_________________________________); that according to Paragraph #7, Article #5, listed above, at the Criminal Execution Place of Housing, you have the right to remain silent. You have the right to an attorney, which one will be appointed to you, and to have that attorney present during questioning.

---

The person identified in this document has been advised that he or she acknowledges that the contents of the statement are true and accurate.

بیان پاڼه

نوم:
د پلار نوم:
د نیکه نوم:
اصلي استوګنځی:
اوسنی استوګنځی:
پخوانی شغل:
اوسنی شغل:
عمر:
مدني حال:
زده کړه:
میاشتني عایدات
د کورني غړو شمېر:
د تذکرې لمبر:

ورور:
وراره:
تره:
د تره زوی:
ماما:
د ماما زوی:
سخر/ خسر:
اوښې:
د نیوني ځای:
د نیوني نېټه:
د بیان ورکولو نېټه:
د بیان ورکولو ځای:

نوم:(_______________________) د پلار نوم:(_____________________________)؛ تاسي د پورتنی ۵ مادي، ۷ بند سره سم، د جزایي اجراآتو د اوربدني ځای کي د چوپتیا حق لری. تاسي حق لری چي د مدافع وکیل درته وټاکل شي، او نوموری وکیل د پوښتلو پر مهال حضور ولري.

---

دغه شخص ته چي هویت یي په دي سند کي څرګند شوی، توصیه ورکول کېږي چي د بیان د محتویاتو دقت او صحت تصدیق کړي.

## د "س" ضمیمي (ادامه)
## فورمي او موخذونه

د کشف او تحقیق قوانینو، د (     ) مادي سره سم د اسنادو فهرست

| شمیره | د سند ډول | د سندونو شمیره |
|---|---|---|
| ۱ | | |
| ۲ | | |
| ۳ | | |
| ۴ | | |
| ۵ | | |
| ۶ | | |
| ۷ | | |
| ۸ | | |
| ۹ | | |
| ۱۰ | | |
| ۱۱ | | |
| ۱۲ | | |
| ۱۳ | | |
| ۱۴ | | |
| ۱۵ | | |
| ۱۶ | | |
| ۱۷ | | |

List of Documents According to Article (   ), Laws of Detection and Discovery

| Number | Type of Document | Number of Document(s) |
|---|---|---|
| 1 | | |
| 2 | | |
| 3 | | |
| 4 | | |
| 5 | | |
| 6 | | |
| 7 | | |
| 8 | | |
| 9 | | |
| 10 | | |
| 11 | | |
| 12 | | |
| 13 | | |
| 14 | | |
| 15 | | |
| 16 | | |
| 17 | | |

## د "ش" ضمیمه

## د قانونی تعقیب پاکټ فهرست

**24 ساعته** – څارنوال ته باید د جرم د ارتکاب په اړه خبر ورکړل شي

____ افغانی ټیم مشر باید څارنوال ته د جنایت د پېښېدلو او د تحقیق د پیلېدلو په اړه خبر ورکړي.

**72 ساعته** – د جنایی مدرک ټولونې ټیم باید ټول راپورونه او څرګندونې (بیان) بشپړ او څارنوال ته وسپاري. څارنوال ممکن اضافي معلومات یا راپورونه وغواړي.

____ د سیمې نخشې د افغاني افرادو لخوا د افغانی قطعې نوم، نېټه، وخت، او موقعیت سره باید بشپړ شي.

____ عکسونه چاپ شي او هر انفرادي عکس د افغاني عکاس یا د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو اړوند د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک شي.

____ افغاني څرګندونه(بیان) باید تشریح کړي چې ټول عکسونه دقیق دي او بدل شوي ندي د هغې قطعې نوم چې عکسونه یې اخیستي، د قطعې قوماندان لخوا لاسلیک او نېټه پرې لګول شوي دي.

____ افغاني څرګندونه(بیان) باید تشریح کړي چې وسلې/کورنې ساخت چاوېدونکي مواد/ځای پر ځای شوي چاودېدونکي دستګاه برخې/ درمل او مخدره توکی له منځه وړل شوي، ولې له منځه وړل شوي، چېرته، او د چا لخوا له منځه وړل شوي. نوموړی بیان باید د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو پورې تړلی د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک شي او د قعطې نوم، نېټه فهرست کړي، او تر پلټنې لاندې پېښه ثبت او سند کړي.

____ دوه افغاني څرګندونې(بیان) چې د امکان په صورت کې د چا، څه، کله، چېرته، ولې، څنګه پوښتنې تشریح کوي او د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو اړوند د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک شي او د قعطې نوم، نېټه فهرست کړي، او تر پلټنې لاندې پېښه ثبت او سند کړي.

____ د ملکي افرادو څرګندونې(بیان) چې د امکان په صورت کې د چا، څه، کله، چېرته، ولې، څنګه پوښتنې تشریح کوي او د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو اړوند د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک شي او د قعطې نوم، نېټه فهرست کړي، او تر پلټنې لاندې پېښه ثبت او سجل کړي.

____ افغاني څرګندونه (بیان) چې د وسلو بشپړ معلومات تشریح کوي لکه مسلسلې شمېرې، پېژندونکي نښې، د وسلو حالت(ډکې/خالي) د موندلو پرمهال، او تر ټولو مهمه، دا چې وسله په سمه توګه فعاله ده(انداخت پرې کېږي).

____ افغاني څرګندونه (بیان) چې بلواګرو پورې تړلې اسناد، وړې تبلیغاتي پاڼې، لیکونه، یادداښتونه، او نور، تشریح کوي. نوموړې څرګندونه د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو اړوند د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک شي او د قعطې نوم، نېټه فهرست کړي، او تر پلټنې لاندې پېښه ثبت او سند کړي. استخباراتي کاراچونې څخه وړاندې یو نقل افغانانوته تیار شي.

____ د افغاني همکارانو څرګندونه (بیان) چې سیمې ته د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو د رسېدلو علت، د پلټنې علت، او د شکمنو د نیونې علت تشریح کوي. دا څرګندونه باید د افغان ملي امنیتي ځواک/ افغان ملي پولیسو اړوند د سیمې قوماندان لخوا لاسلیک او د قعطې نوم، نېټه فهرست کړي، او تر پلټنې لاندې پېښه ثبت او سجل کړي.

د ټولو څرګندونو(بیان) او اسنادو نقل په انګرېزي ژبه واړول شي او افغانستان کې میشته د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو یا نړیوال سوله ساتی ځواک ته د جنایی مدارکو او قانوني تعقیب دوسیو لپاره وسپارل شي.

## د ص ضمیمه

## عدلي تحلیل او کاراچونه

____ هغه وسلې چې عدلي یا استخباراتي کاراچوني لپاره استول شوي باید بېرته څارنوال ته راوګرځول شي (که امکان ولري).

____ د ځای په خاي شوي چاودېدونکي دستګاه یا موادو باندې د چاودېدونکی موادو د کاراچوني ګډ ګروپ د تحلیل پایله د ژباړلي راپور سره چې ځیني لاسته راوړنی په ډاګه کوی چې څارنوال ته بېرته واستول شي (که عملي وي).

____ د ټلیفون شمېرې چې له ګرځنده ټلیفون څخه ترلاسه شوی څارنوال ته وسپارل شي (که عملي وي).

## د ض ضميمه

## د محاکم لپاره د جزايي اجراآتو مؤقت قانون: څلورم، پنځم او شپږم فصلونه

### څلورم فصل – د محکو واک

پنځه ويشتمه ماده – د جرمونو د غور کولو واک:

1. د ولسوالی محکمه د قانون د حکمونو مطابق د قباحت، جنحي او جنايت د جرمونو د غور کولو واک لري.

شپږويشتمه ماده – حوزوی واک:

1. د محکمي د حوزوي واک شاخص هغه سيمه ده چي جرم د هغي په جغرافيايي محدوده کي واقع شوي وي.
2. د جرم د ارتکاب د قصد په صورت کي، دقضيي د غور کولو واک هغه محکمه لري چي په جرم پوري مربوط وروستي ارتکاب شوی عمل په هغه ځای کي بشپړ شوي وي.
3. د استمراري يا متوالي جرم په صورت کي د قضيي د غور کولو واک په هغي محکمي پوري مربوط کيږي چي استمراری يا متوالي جرم په هغي سيمي کي دوام موندلي او ختم شوي وي.
4. که چيري تورن ته له يوه ځخه د زيات جرم نسبت وکول شي، د قضيي د غور کولو واک په هغي محکمي پوري مربوط کيږي چي ډير جرم په هغي سيمي کي واقع شوي وي.
5. که چيرې محکمه د هغي قضيي د غور کولو په وخت کي چي پکي څو جرمونه ارتکاب شوي وي، تشخيص کړي چي ډير شديد جرم په بله حوزه کي ارتکاب شوی دي، دوسيه هماغي محکمي ته احاله کوي.

اوه ويشتمه ماده – د واک تنازع:

1. په هغه صورت کي چي تنازع د حوزوي واک پر اساس د دوو محکمو تر منځ چي په يوه ولايت کي موقعيت لري، رامنځ ته شي، قضيه د مرافعه محکمي د رئيس لخوا تر غور لاندې نيول کيږي.
2. که چېرې تنازع د دوو محکمو تر منځ په مختلفو ولايتونو کي وي، دوسيه د سترې محکمي لخوا تر غور لاندې نيول کيږي.
3. د حوزوي واک د تنازع حل و فصل د ذيد خلو محکمو ديوې يا و مربوط څارنوال د غوښتني پر اساس صورت مومي.
4. د واک د تنازع په اړه د حل و فصل فيصله واکمني محکمي ته احاله کيږي.

### پنځم فصل – عدلي پوليس او دهغو دندي او واکونه

اته ويشتمه ماده – د عدلي پوليس کټګورئ:

1. د عدلي پوليسو افسران په لاندې کټګوريو کي شامل دي:
   (1) د عدلي پوليسو چي د هېواد د پوليسو په عالي کدر کي قرار لري.
   (2) عادي عدلي پوليس چي د عدلي پوليسو له افسرانو څخه په ښکته مقام کي واقع وي.
2. د عدلي پوليسو دندې او واکونه د خاصو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق د عامه خدمتونو نورو مؤظفينو ته سپارل کېدای شي.

نهه ويشتمه ماده – د عدلي پوليسو نقش

1. عدلي پوليس خپلې دندې د څارنوال په لارښونه او دستور سرته رسوي.
2. عدلي پوليس د عدالت د تآمينولو په خاطر مکلف دي چي جرمونه کشف، شواهد او اثباتيه دلايل راټول او مظنونين تعقيب کړي.

ديرشمه ماده – د عدلي پوليسو په واسطه نيول:

1. عدلي پولیس کولی شي په خپل واک په لاندي حالاتو کې شخص ونیسي:
   (1) د جنایت یا جنحي د جرم د ارتکاب په وخت کې چې جزا یې متوسط حبس وي.
   (2) هغه شخص چې د جنایت د جرم په ارتکاب قلمداد شوي او غايبيدو امکان يې متصور وي.
2. په نورو حالاتو کې د پولیسو په واسطه نیول د واکمنو عدلي او قضايي مقاماتو د دستور په اساس صورت مومي.

یو دېرشمه ماده – د عدلي پولیسو په واسطه استنطاق:

1. عدلي پولیسو په واسطه د شخص د نیولو او د هغه له تثبیت وروسته د نیولو دلایل هغه ته ابلاغ او توضیح کوي، عدلي پولیس مکلف دي چې زیات نه زیات د ۲۴ ساعتونو په موده کې له مظنون څخه د هماغه جرم په استنطاق او ګروېږنې لاس پورې کړي.
2. عدلي پولیس مکلف دي چې د استنطاق له پای ته رسیدو وروسته د خپلو اجراآتو راپور مربوط ابتدایه څارنوال ته ولیږي او مظنون د نورې ګروېږنې او استنطاق لپاره هغه ته وسپارې.

دوه دېرشمه ماده – د قضايي ضبط د مامور عاجل اجراآت:

1. د قضايي ضبط مامورین د جرم د ارتکاب په وخت کې او د مؤجه دلیلونو د موجودیت په صورت کې د عاجلو اجراآتو د تر سره کولو لپاره د هغو دلیلونه د لاسته راوړلو په خاطر چې ضروري يې بولي، لاندي ابتدايي تحقیقات پيل کوي:
   (1) د مظنون شخص د اوسیدني د کور تو نورو مربوطه ځايونو تلاشي کول.
   (2) د شیانو او اسنادو ضبطول.
   (3) د نورو اشخاصو او ځايونو پلټل اوله هغوي څخه عکس اخیستل.
   (4) د موبوطه اجراآتو د ترسره کولو لپاره له متخصصینو او اهل خبره وو څخه چې د مسلکي وړتیا لرونکي وي د مرستې غوښتنه.
2. د پورتنیو عملیاتو سرته رسولو څخه وروسته سمدلاسه، عدلي پولیس باید ابتداییه څارنوال ته راپور واستوي.
3. د شکمن او تورن مدافع وکیل د دې قانون 38 مادې سره سم دا حق لري چې د تحقیق او استنطاق په پړاوونوکې شتون ولري.

<u>شپږم فصل – د څارنوال لخوا تحقیق کول</u>

درې دېرشمه ماده – د پولیسو د تصمیمونو تائیدول:

1. ابتدائیه څارنوال مکلف دی چې په ۳۰، ۳۱ او ۳۲ مادو کې درج شوی د پولیسو د اجراآتو د خبر له ترلاسه کولو وروسته پرته له ځنده د هغه د تائیدولو، ردولو یا لغوه کولو په هکله تصمیم ونیسي.
2. ابتدائیه څارنوال واک لري چې د پولیسو د اجراآتو له تائیدولو، ردولو یا لغو کولو مخکې له هغوی څخه نوره زیاته توضیح وغواړي.

څلور دېرشمه ماده – د نیول شوی شخص څخه استنطاق

1. ابتدائیه څارنوال مکلف دي چې هغه ته د شخص له سپارلو وروسته د ۴۸ ساعتو په موده کې استنطاق وکړي.
2. ابتدائیه څارنوال په هغه صورت کې چې د مظنون شخص د توقیف دوام ضرور ونه بولي، کولی شي د هغه په خوشی کولو امر وکړي.

پنځه دېرشمه ماده – د ابتدائیه څارنوال په واسطه نیول او د شیانو ضبطول:

1. ابتدائيه څارنوال کولی شي د تحقيق په بهير کې د هغه شخص په نيولو چې د جنايت يا جنحې د جرم چې جزائي متوسط حبس وي مرتکب شوي وي، او د جرم مرتبط د شيانو په ضبطولو امر صادر کړي.
2. نيول شوی شخص بايد د ۴۸ ساعتونو په موده کې تر استنطاق لاندې ونيول شي.

شپږ دېرشمه ماده- د نيولو په هکله د دعوې د اقامه کولو شرايط:
1. که چېرې نيول د پوليسو په واسطه تر سره شوی وي او د څارنوال لخوا تائيد يا د توقيف قرار د څارنوال په واسطه صادر شوی وي او دغه قرار په خپل قوت باقي پاتې وي او څارنوال د نيولو له نيټې څخه په ۱۵ ورځو کې، صورت دعوې محکمې ته وړاندې نه کړي، تورن خوشی کېږي، مګر دا چې د څارنوال د په وخت غوښتنې په اثر، د توقيف موده د نورو ۱۵ ورځو لپاره تمديد شوې وي.

اوه دېرشمه ماده- د دلايلو او شواهدو راټولول:
1. ابتدائيه څارنوال مکلف دی چې د تحقيق په بهير کې ټول څرګند دلايل او شواهد چې د مظنون په ګټه يا زيان وي، راټول کړي.
2. ابتدائيه څارنوال د جرم د دلايلو او اسبابو او آلاتو په راټولو کې آزاد دی او دی او د خاصو شکلياتو او بنديزونو تابع نه دی.
3. اساسي اثباتيه وسايل او مدارک په لاندې ډول دي:
   - شهود
   - د شهودو مقابله
   - په صف کې په بالمواجه ډول د تورن پيژندنه (لاين اپ).
   - د ځای تفتيش
   - تلاشي
   - د شيانو ضبطول
   - ارزيابي او تخصصي کتنې
   - استنطاق

اته دېرشمه ماده – د مدافع وکيل شتوالی

1. مدافع وکيل حق لري چې د مظنون د استنطاق د بهير په ټولو پړاونو کې حاضر وي.
2. مدافع وکيل او مظنون حق لري چې د تلاشي، په صف کې د مجرمينو د پيژندنې په مقابله کې، د اهل خبره وو لخوا په کتنې او محاکمې کې حاضر وي.
3. څارنوال او عدلي پوليس مکلف دي چې د پلټنې. شهودو د مقابلې، د صف له لارې د پيژندنې د طرزالعمل او د اهل خبره وو د کتنې په صورت کې، مظنون او د هغه مدافع وکيل د تحقيق په ټولو پړاونو کې د حضور په غرض خبر کړي.
دغه مکلفيت يوازې په هغه صورت کې کيدلی شي ساقط شي چې په جرم کې د عاجل ضرورت احساس مشهود يا د الزام د دلايلو د له منځه تلو ويره متصوره وي.

نهه دېرشمه ماده- د تحقيقاتو پايله:

1. په هغه صورت کې چې څارنوال د تحقيقاتو په پاي کې تشخيص کړي چې د الزام مؤجه او کافی دلايل وجود نه لري، کولی شي دوسيه حفظ کړي.
2. مجني عليه يا پورتني څارنوال کولی شي، خپل اعتراض ددې تصميم په وړاندې د لسو ورځو په موده کې مربوطې محکمې ته وړاندې کړي.
3. محکمه کولی شي د دوسيې له غور کولو وروسته، د څارنوال تصميم تائيد يا رد کړي او يا برعکس له هغه څخه د ادعا نامې (صورت دعوې) غوښتنه وکړي.
4. په ځينو نورو قضاياوو کې څارنوال بايد ادعانامه محکمې ته وسپاري او له محکمې څخه د شخص د جرمي مسووليت د غور کولو غوښتونکی شي.

5. د دعوی اقامه (صورت دعوی) د لاندې ټکو لرونکې وي:

- د مظنون هویت او بشپړي ځانګړتیاوې.
- د جرم بشپړ تعریف

6. ابتدائیه څارنوال باید هغه دوسیه چې د تحقیق د شواهدو او قراینو لرونکې وي، له صورت دعوی سره یو ځای محکمې ته وړاندې کړي، ضبط شوي شیان او مالونه هم محکمې ته سپارل کیږي.